


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب ځانګړنې:

||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم :: د خيال څپې.

ويناوال :: خالد بارګامی.

چاپ زيار :: سيد عبدالله پاچا.

چاپ شمېر :: 1000 ټوکه.

چاپ نېټه :: 1384ل/ 2005م.

کمپوزګر :: حاجي محمد "عمرخېل."

چاپ او کمپيوټر ځای د دانش خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه

قصه خوانۍ بازار، پېښور2564513 :Tel/ Fax

E-mail: danish2k2000@yahoo.com

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اهــــــداء**

په پراخه روسیه پاس د الوتکې نه نظر کړم

د وطن په نیت به کږه راپه سر کړم

ورته وبه وايم ورك شه پردی ملکه

زه مې خوږ افغانستان ته نن سفر کړم

خپل جګرې ځپلي او ځورېدلي هېواد ګران افغانستان او ټولو هغو بې وطنه مساپرو ته، چې وطن ته د تلو هيله د زړه په وينه په خپلو زړونو کې ژوندۍ ساتي.

خالد خيال څپه کښ بارګامي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه

د ټول افغان ویب پاڼې د درنو او قدرمنو لیکوالانو او خوږ ژبو شاعرانو د تسلیت او غم شریکۍ له پیغامونو څخه د زړه له کومي مننه کوم او کور ودانی ورته وایم او د ژوند په هر ډګر کې ورته د لوی خدای(ج) له دربار څخه د بریالیتوبونو هیله کوم.

او همدارنګه د ښاغلو هر یو عباد الرحمان ښاد "بارګامي"، محمد شعیب کروړ "بارګامي" او ذبیح الله الماس "بارګامي" څخه هم د زړه له تله مننه، چې د کتاب په چاپولو کې یې زما سره هر اړخیزه مرسته او ملاتړ کړی دی.

په پښتنه مینه او درنښت

ز. هیله- ب

1- 3- 2005

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما خبرې، زما نظر

په هېواد کې څه دپاسه شل کلن ناورین داسې کانې وکړې، چې هر افغان یې د ژوند په ورشو کې د خوار در په دیکې حالاتو سره مخامخ کړ.

د ژوند د ناهیلیو په دغه پړاو کې افغانانو د وحشت په پوله د ډېر تریخ ژوند ګوټونه تر ستوني تېر کړل، نړیوالو د افغانانو په اّهونو او سترګو ژوند خپله خواشیني او غمرازي وښودله، وخت د وحشت په ملتیا هرې افغانې کورنۍ ته ډېر کړیدلی او ځورېدلی ژوند ور په برخه کړ.

د ژوند ددغې تیارې او کړې وړې لارې په اوږدو کې د هېواد ډېرې وتلې هستۍ د وخت د حالاتو لوګی شوې او د تاریخ ددې تور پړاو له اغېز څخه هېڅوک خوندي نه دي پاتې شوي.

خالد بارګامی یو د هغو رژېدلو غوټیو څخه دی، چې د کونړ د هسکو غرونو په لمن کې نړۍ ته سترګې غړولې او د یوې ډېرې روڼ اندې او شاعرې کورنۍ په غېږ کې د هېواد سره په لېونۍ مینه خپلې ټولې سترې ستومانه شېبې او د پردېسو ماشامونو په لوګو کې خپل ګودر، خپله دېره او خپله جونګړه له یاده نه ده اېستلې او وایي:

پــردېسۍ کې لېونی وطن پسې شوم

د وطن خلکو نظر مې په ګرېوان کړۍ

خالد بارګامي د یوې شاعرې کورنۍ زوکړې خو و، ولې د هغه استعداد او پوهه یو بل هغه جوهر دی، چې دده د شخصیت او ذهني ځواکمنتیا دپاره په زړه پورې چاپېریال برابر کړی و.

دا شعر دده د ذهني تراوش غوره بېلګه ګڼلی شو:

د ژوند په کـــــــــــمه فاصله کې مې ډېر څه ولیدل

زما د زړه کیسې عـــــــــــــالم ته د کولو نـــــــه دي

د خـــاطر کلی مې وران شوی په کې هېڅ هم نشته

د فـــــــکر ورانې کنډوالې د جـــــــــــــوړولو نه دي

کله چې ویل کېږي شعر یوه اهنګینه عاطفي غوټه ده، چې د ژبې، خیال او فکر انځور پکې په پام کې نیول کېږي؛ نو ویلی شو دغه څلور واړه توکي د شعر د جوړښت په اډانه کې په کار وړل کېږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد هم په خود اګاه او ناخود اګاه ډول دغه څلور واړه توکي د خپلو شعرونو په جوړښت کې په پام کې نیولي دي، چې دا دده د لوړ خدای ورکړي استعداد ښه استازیتوب کوي د مفهوم او موخې په لحاظ لاندېنی شعر د هغه د لوړ استعداد ښودنه کوي:

هـــــــــلته د ژوندون هیله نڅا کوي

هـــــلته انسانان ژوند په رښتیا کوي

چـــېرته چې د سولې مرغۍ والوځي

هـــــــــلته مینه خوند بیا د لیلا کوي

شعر وخت، ځای او مړینه نه لري په دې مانا، چې هر چېرته وویل شي د خلکو خوښ شي، په هره زمانه کې او د هرې تیپې او خېل په ذهنونو کې د یوې اندېښنې لامل وګرځي پورتنی شعر هم همداسې شعر دی، چې د هر چا دپاره او د هر وخت دپاره ویل شوی دی تر څو، چې دا نړۍ ودانه وي، دا به ژوندی او د خلکو په خولو کې به زمزمه کېږي.

د خالد په دې شعري غونډ کې یوه بله وتلې ځانګړتیا داده، چې د ابتذال له وږانګو یې ځان لرې ساتلی دی، چې دا هم د یوه ښه شعر ځانګړتیا ده، هغه (خالد) شعر په شعار کې نه دی نغښتی او د فورمالیزم په بې خونده لاره نه دی روان شوی، چې دده شعري قریحې یوه غوره بېلګه یې ګڼلی شو.

خالد بارګامي خپل شعر د قافیې او ردیف په لنډ او تنګ چاپېریال پورې نه دی تړلی د هغه شعر، چې سړی لولي؛ نو دا ورته جوتېږي، چې دا شعر، د شعر د ښېښې په راتګ سره د الفاظو په باران کې ویل شوی دی، چې لوړه موخه او عالي مفهوم لري.

هغه، چې د شعر په ښېبه کې دا لاندېنی شعر ویلی د هغه د ارمان او هیلې ښه انځور وړاندې کوي:

د روســـــیې په سره خاوره کې ایسار یم

غـــــــــــواړم ووینم پیتاوی د خپل لمر

د کونړ د سیند اوبو نه یو ګوټ راکړئ

خـــــــــــراب کړی مې مسکو اوبو ځیګر

دا یو داسې انځور دی، چې د هر افغان د هیلې او ارمان پورې ډېره لګوي او ښه شعر همداسې ځانګړتیا لري، چې د هر چا په ذهن کې کښېني او د احساس او درك برابر ترې پورته شي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد بارګامی د خپل عمر په ډېر تنکي پړاو کې د پردېسۍ د داسې کاروان په لاره روان شو، چې موخه یې څرګنده نه وه او یوازې د ژوندي پاتې کېدو په موخه د تیارو په ګړنګونو یې په ډېر ځیرکتیا قدم پورته کاوه؛ نو ځکه هغه د ماشومتوب بې پروا کلیوالي ژوند ته د اروپا په رڼاګانو او ښکلا غوره والی ورکوي؛ لکه، چې وايي:

د وطن سپېره مـــــــــخونه خواږه لګي

د یورپ ښکلي مخونه دي قدغن شي

په پام کې نیولی او د بحر او ریتم د ورته توکو په لیکه یې د شعر ناوې سینګار کړې ده؛ لکه، چې وايي:

عـــــــشقه لېونی دې کړمه زه هجران کې وسومه

وصل ته مې زړه وي خو په دې ارمان کې وسومه

د هیښتیا وړ خبره خو داده، چې د هغه د ډېر کم عمر سره سره هغه د شعر د هنر په لاره داسې پاخه ګامونه پورته کړي دي، چې ټول مفاهیم او ترکیبونه د شعر په قالب کې هم د بڼې او مضمون له نظره غوره او پر ځای دي. دا شعر د هغه د لوړ خیال او فکر ښه انځور دی:

لوپټه له مــــــــــخې لرې کړه شېرینې

راته وخـــــــــانده په مینې مینې مینې

د پښتو د دېوال سیوري ته به کښېنو

سره وبه کړو خــــــبرې سپینې سپینې

خالد په رښتیا سره راتلونکي ته هیله مند و هغه د خپل کنډر کنډر او وران هېواد جوړولو ته سخت مینه وال و؛ نو ځکه یې وايي:

خــــــــــالده ما خو داسې اورېدلي دا رښتیا ده

چې هرې تورې شپې پسې راتلونکی دی سهار

ما غوښتل، چې زه هم یو شعر د هغه په ژوند ورډالۍ کړم؛ خو دا چې زما او د هغه په ژوند کتنه ونه شوه؛ نو زړه مې نه غواړي، چې په مړینې هغه ته شعر ووایم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد ځوان و؛ خو د هغه احساس او درك د ځوانۍ په سرشاره او بې پروا پړاو کې د هېواد د حالاتو څخه بې خبري نه ښودله هغه د پردېسۍ ځپېړې وهلی و؛ خو د ناهیلیو په توپان کې خپل هوډ او اراده ځواکمنه ساتلې؛ لکه، چې وايي:

چــې رايادې خـــــاطرې د خپل وطن شي
د يورپ جـــــامې مې ځان پورې کفن شي
بــې وطنه پادشـــــــــــاهي هم مزه نه کړي
کـــــــه په تخت د زاړه روم يا د لندن شي

ماته د خالد د سوچ او ذهن ځواك هغه وخت څرګند شو، چې وروسته د 18 کلونو څخه مې د هغه سره دده د مړينې نه يوه مياشت مخکې په کابل کې وليدل، ماته يې د تېر ژوند د ناخوالو داستان، چې وايه؛ نو که له يوې خوا د هغه ددغه تريخ داستان په ويلو سره خواشينی شوم؛ نو له بلې خوا د هغه هوډ، ارادې او هغه احساس، چې يې درلود، دېته وهڅولم، چې که خير وي د علي ګل پيوند او حضرت ګل بارګامي د کورنۍ نيالګی به د خپلو مشرانو ځای نيسي، زما سره يې ويدويي مرکه وکړه او ويې ويل، چې دا به زه په مسکو کې افغان فرهنګيانو ته وړم او هغو ته به يې ښايم، چې د بلې کتنې په هيله مو هغه ليدنه پای ته ورسوله؛ خو دريغه، چې همدا زما او د خالد وروستۍ کتنه وه او بلې ناستې ته مو وار برابر نه شو.

په پای کې به دومره ووايم، چې د خالد دا شعري غونډه که څه هم لوړ شعري ارزښت لري؛ خو ددې شك نشته، چې نيمګړتيا ونه لري، ولې د خالد د شعر خواږه دومره زيات دي، چې نيمګړتيا په ځان کې ورکوي.

ارواح دې ښاده وي او ياد دې تل زموږ په سينو کې پاتې وي.

داد محمد رسا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خیال ځپې زما په نظر

د خیال ځپې د ځوانیمرګ شاعر خالد خیال ځپه کښې بارګامي د شعرونو ټولګه ده. شاعر، ادیب او د پوره پوهې خاوند خدای(ج) بخښلی خالد خیال ځپه کښې، چې په لیدلو یې د هر چا په زړه کې ځای نیوه د عمر په لحاظ کم؛ خو د پوهې او لیاقت کمی یې نه و. د هغه په تندي کې به د اخلاص او محبت سپیني لیکې همېشه له ورایه ځلېدې په خپل وطن د مینتوب کیسې یې د شعر په ژبه له تنکۍ ځوانۍ څخه پیل او د مرګ تر ورځې هېرې نه کړې. ځوانیمرګ خیال ځپه کښې د کنړ د دنګو غرونو په لمن کې په یوه روڼ آنده ادبي کورنۍ کې نړۍ ته سترګې نړولې وې د کایناتو خالق وربانديې دا لورېینه کړې وه، چې په تنکي عمر کې د شعر او ادب په میدان کې د ډېرو وتلو ادیبانو او شاعرانو په کتار کې ودرېږي؛ خو د فاني نړۍ بې وخته خزان په بې صبرۍ سره دغه ښکلې غوټۍ ورژوله.

انا لله و انا الیه راجعون.

روح دې ښاد او ادبي ژوند دې یې د جنت په نعمتونو کې وي.

ښــکلو کېده وکړه نازولو سترګې پټې کړې

بې وخته خزانه تا د ګلو سترګې پټې کړې

د خالد بارګامي د ذهني قوت او ژواك د هغه د پوهې او استعداد په برخه کې، چې هر څومره لیکل وشي په څو پاڼو کې بهم په پوره توګه ځای نه شي.

لازمه ګڼم، چې د هغه د شاعرانه انداز، د هغه د پښتو سره د لېونۍ مینې جذبات او احساسات، چې په خپل ژوند یې وروسته پاتو ته د شعر په ژبه ډالۍ کړي دي تاسو ګرانو او محترمو د ادب مینه والو ورونو او خوېندو ته د ځوانیمرګ سره د مینې په دود وړاندې کړم او په هغه برخه کې څه ناڅه نظر څرګند کړم، چې د هغه د خپل در په دره وران ویجاړ او کنډر کنډر وطن سره د مینې او محبت اظهار او ترجماني کوي.

خالد خیال د یورپ د رڼاګانو په ښارونو کې د خپل وطن د خړو خاورو جوړ کورونه او کوڅې، چې ده په کې خاپوړې کړې وې هېرې نه کړې او د خپل زړه خوږمن او درمند آواز یې د شعر په ژبه د خپل وطن سره د مینې جذبات ښکاره کوي؛ لکه، چې وایي:

چې یادې خـــــــــــاطرې د خپل وطن شي

د یورپ جامې مې ځان پورې کــــــفن شي

بې وطنه بادشاهي هم مــــــــــــــزه نه کړي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کــه په تخت د زاړه روم يا د لــــــــندن شي

د پورتني شعر نه ښکاري، چې د وطن مينې په رښتيا د يورپ ښکلاګانې او رڼاګانې د هغه په سترګو کې ورکې؛ خو د خپل وطن يادونه يې د سترګو پناه شول هغه د خپل پښتون قوم سره د پښتو او پښتونولۍ په نوم خپله مينه تل پخپله سينه کې ګرمه ساتله هغه د خپلې ژبې خپل کلچر او پښتني رواياتو څخه ډېر لرې د پردو په وطن کې ډېر کلونه تېر کړل؛ خو پښتو يې هېره نه کړه؛ بلکې تل يې هڅه کوله، چې د نورو په زړونو کې هم پښتو ژوندۍ وساتي هغه د پښتون قوم د سرښندنې او وياړنې د شهامت او شجاعت په اړه ډېر معلومات درلودل، چې کله د خيال څپې پاڅې په پاڅې وګورو نو جوته به شي، چې د هغه د خپلې خوږې ژبې پښتو سره څومره مينه وه او دا مينه يوازې لفظي نه وه؛ بلکې هغه په عمل کې هم دا ثابته کړې وه هغه د خپل لنډ عمر په موده کې د پښتو دپاره ډېر څه وکړل، هغه پښتو ويله، پښتو يې ستايله او پښتو يې کوله؛ لکه، چې وايي:

تر اوســــــــــه لړه لار شته د منزل تر رسېدو

لا شـــــونډې لړې لرې دي د يار تر ښکلېدو

که نه مــې کړلې خپله ای زما پښتنې مينې

د ژونـــــد په لار به څنګه ږدم قدم د لوړېدو

زما په نظر د خيال په څپو کې دومره خواږه پراته دي څومره خواږه، چې د خيال څپه کښ په ژوند کې د هغه په وجود کې وو. هغه خپل ټول خواږه په دغه کتاب کې پرېښي دي زما د څو ماتو ګوډو تورو په ليکلو به د کتاب او ليکوال د ستاينې پوره حق اداء نه شي؛ خو دومره به ووايم، چې دغه شعري ټولګه د پښتو ادب په بڼ کې يوه بله ګلدسته ده، چې تر ډېره عمره به د خپل ارزښت په اساس د پښتو ادب په چوپړ کې د ليکوال يادونه؛ لکه د سپرلي د سحر غوړې څڼې ګل تر او تازه وي. وياړم د ادب مين په دغه ادبي خدمت.

په ډېره مينه او درنښت

محمد حنيف سالارزی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ســتا غمونه په هر شان مې ژړوي

پـه سپرلي کې دا خزان مې ژړوي

په ډېر افسوس سره، چې د خيال ښېه کښ صاحب د ژوند غوټۍ مخکې د خزان د راتلو نه په سپرلي کې ورژېدلې، دده مړينه يوه لويه ضايعه ده؛ ځکه، چې خيال ښېه کښ د پښتو او پښتنو سره مينه او په دې لار کې د پښتنو دپاره ډېرې زياتې هلې ځلې کولې ان تر دې، چې د پښتنو ځوانانو ادبي ټولنې په نامه يې په يو ټغر باندې ځوانان راټول کړي وو.

د خدای بخښلي خالد د شعرونو ټولګه، چې چاپ شوې ده؛ نو په دې کې دده ځينې شعرونه نيمګړي دي، چې د ټولو محترمو د قلم خاوندانو څخه هيله کوم، چې د خپلې وسې سره سم د نومړو بيتونو څخه ګټه واخلي.

د خيال صاحب په باره کې د نورو خبرو نه تېرېږم او خپل شعر، چې هغه ته مې ډالۍ کړی وړاندې کوم.

## خـــــالد ته

خدای دې په برخه کړه جنت خالده

په ژوند دې ډېر تېر کړ زحمت خالده

ځای دې پيدا و د هر چا په زړه کې

دوستي وه ستا په صداقت خالده

ستا ملګرتوب و خوېندو ورونو سره

د مور دې ډېر کړی خدمت خالده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پردي وطن کې پردېسي ژوندون کې

تا پاچاهي ګڼل ذلت خالده

ترخه حالات او کړاوونه د ژوند

تا به زغمل په ډېر همت خالده

هيله په دې هيله اوس ژوند تېروي

چې لا دې نوم کاندي اوچت خالده

"صميمي" خور دې کړي دعا درته تل

رب درله شه کړه آخرت خالده

19- 11- 2004

دکتورس ماه جان "صميمي"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شاعر پېژندنه

پرې یاد د خالد تېر شي په زړه څرېکې چې راځي

ځيګر نه وینې څاڅي په خوله کوکې چې راځي

سپېره نصیبه وایه راته څرنګه یې هېر کړم

خالد مې په مخ هره اوښکه لیکې چې راځي

په پښتو او پښتنو مین خالد بارګامی د ښاغلي حضرت ګل بارګامي زوی او د حاجي محمد ګل خان لمسی په 1354لمریز کال د ثور د میاشتې په 24مه نېټه د کونړ ولایت د سرکانو ولسوالۍ د پشد کلي په بارګام کې په یوه روښانفکره کورنۍ کې زېږېدلی دی. خالد په ډېر وړوکوالي کې د زده کړې سره مینه پیدا کړه په پینځه کلنۍ کې ښوونځي ته لاړ خپلې لومړنۍ زده کړې یې د کابل ولایت د بي بي نېکبختې په منځني ښوونځي کې تر درېیم ټولګي، د ننګرهار ولایت په تجربوي ښوونځي کې تر اووم ټولګي او د درونټې د امرخېلو په منځني ښوونځي کې تر اتم ټولګي په ډېره مینه تر سره کړې د اتم ټولګي نه یې د کارګري او امادګي په نوم نوي پرانستل شوي درسي پروګرام ته ازموینه ورکړه، چې په ډېرو ښو نومرو بریالی شو او دوه کاله یې په دغه پوهنځي کې په ډېره مینه زده کړه وکړه.

وروسته یې په ننګرهار ولایت کې د کانکور ازموینه تر سره کړه، چې د خپلې خوښې سره سم د ننګرهار د طب پوهنځي ته بریالی شو. د طب په پوهنځي کې د څلور کاله زده کړو نه وروسته، چې په ډېرو ښو نومرو یې تر سره کولې او د راتلونکي ژوند د جوړېدو او خپلو خلکو او وطن ته د چوپړ ارمان او هیله یې درلوده د ظالم قسمت له لاسه او زموږ په ګران هېواد افغانستان کې قدرت ته د رسېدو او چوکۍ په سر جنګونو له امله د نورو ډېرو ځوانانو په څېر د ګران افغانستان پرېښودو ته اړ شو په 1371لمریز کال کې د خپلې ټولې کورنۍ سره د روسیې فدراسیون خاورې ته مساپر شو. څه دپاسه یوولس کاله یې په دغه ملك کې د مساپرۍ ژوند څرنګه تېر کړ دده د شعر د لاندې بیت نه یې پته لږېږي:

د دوزخ ســــاړه تاوده ورته اســــــــــان شي

چې بندي د روسیې خاوره کې افغان شي

خالد د ښوونځي د شپږم ټولګي نه په شعر ویلو پیل کړی و که څه هم هغه به ویل، چې: زه خو شاعر نه یم د شعر د مینه والو څخه یم شعر مې خوښېږي د حسن ستایل خوند راکوي د یتیمانو او کونډو ژړا نورو ته رسول غواړم د یو مساپر د زړه نه د وطن د مینې انځور را ایستل غواړم او د پښتو ویل، په پښتو لوستل، په پښتو لیکل او پښتو کول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې مينه، هيله او ژوند دی؛ خو سره له دې هغه ډېر ښکلي شعرونه ليکل، چې د شعر د ډېرو مينه والو تنده به پرې ماته شي.

خالد د پردېسۍ د ژوند په سختو شپو ورځو کې هم د خپلې ژبې او خپلو خلکو ته د خدمت نه لاس وانه خيست هغه په خپلو بې سارو هلو ځلو د مسکو په ښار کې د پښتنو ځوانانو په يوه ټغر د راټولېدو هڅې وکړې او په خپلو دغو هڅو بريالی هم شو. د ځوانانو د ادبي ټولنې په نوم يې يوه ټولنه جوړه کړه، چې د روسيې پلازمېنه مسکو او ددغه هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې مېشتو پښتنو ځوانانو يې ملاتړ او په کې ګډون وکړ.

د ځوانيمرګ خالد د پښتو ادب سره مينه پخوانۍ وه؛ خو د پردېسۍ شپو ورځو او د وطن نه د بېلتون اور هغه لا پخه او کلکه کړه. خالد لا د ښوونځي زده کوونکی و، چې د ننګرهار راديو ته به يې ليکونه لېږل او په بېلابېلو خپرونو کې به يې ګډون کاوه. هغه د خيال ځپه کښن په نامه د ستاسو ليکونه او زمونږ ځوابونه خپرونې ته هم خپل شعرونه د خپرېدو لپاره ورلېږل.

او په دې وروستيو وختونو کې يې د انټرنېټ په مخ په خپرېدونکي پښتو سايټ کې، چې د ځوان او تکړه ليکوال ښاغلي شېرزاد کامه وال او په پښتو مين ليکوال ښاغلي وطنمل صاحب په هلو ځلو جوړ شوی دی، چې د ټول افغان په نوم يادېږي د بحث په فورم کې د غښتلي په نوم ګډون وکړ، چې د خپل لنډ عمر ځو خوږې شېبې يې پکې بېلابېلې خوږې او په زړه پورې ليکنې وکړې.

خيال ځپه کښن د شعر نه پرته د لنډې کيسې او ناول په ليکلو کې هم ځان ازمايلی و، چې په دې برخه کې هم پوره بريالی ښکاري. يو ناول او د لنډو کيسو ټولګه يې چاپ ته تيار دي، چې په راتلونکي کې به د مينه والو په لاس ورشي. دا چې د شعر لنډه کيسه او ناول په ليکلو کې يې کومې نيمګړتياوې او يا نوښتونه دي د هغو ځېړنه به درنو مشرانو ليکوالانو او شاعرانو ته پرېږدم او زه راځم دې ته، چې زما زړه وايي:

مـــــرګيه ســــــــــــــــترې در په در شـــــــــــــــې

خاورې په سر شې چې خالد دې واخيستنه

خدای بښلی خالد بارګامي د 2004م کال د جولای په 28مه نېټه د چارشنبې ورځ، چې د 1383 لمريز کال د اسد (زمري) د مياشتې له 7 مې نېټې سره برابره ده د ماښام په

8بجو د يوې ترافيکي پېښې له امله خپل لنډ ژوند له لاسه ورکړ او په ابدي خوب ويده شو.

انا لله و انا اليه راجعون

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځوانيمرګ خالد د ژوند ډيوه په داسې وخت کې مړه شوه، چې هغه يې رڼا خپل ځورېدلي او کړېدلي ملت ته رسول غوښتل د هغه د ژوند په ډيوه يوازې د هغه ژوند نه و روښانه؛ بلکې د ډېرو خورو ورو پښتنو او د خپلې مساپرې کورنۍ، چې پالنه يې دده په غاړه وه ژوند روښان او ځليده؛ خو افسوس، چې په مرګي ظالم کې د هېڅا خاطر نشته.

د خالد د خوږو غزلو او نغمو بلبل، چې په چغار راغی د هغه د پښتنو او ملي هيلو او ارمانونو غوټۍ، چې په غوړېدو کېدلې د هغه وطن او خلکو ته د چوپړ کولو خيالونه، چې په ريښتياوو بدلېدل ناڅاپه پرې دمرګي خزان راغی او هر څه يې له ځانه سره يوووړل.

هغه د تل افغان په نوم په انټرنېټ کې يوه پښتو پاڼه خلاصه کړه، چې اوس يې د ادبي ټولنې نور محترم غړي په مخ بيايي او د خپلې وسې سره سم کار په کې کوي.

خالد به همېشه ويل:

د تور غر په زنګانه به مې سر کېږدم

بې وطـــــــنه ژوند به تل تر تله پرېږدم

د خپل لنډ عمر د ختمېدو نه څه موده وړاندې هغه د يوولس کاله پردېسۍ نه وروسته خپل ګران هېواد افغانستان ته راغی د زخمي زخمي کابل په ټپونو وګرځېد د تل بهار ننګرهار د جګړې خزان وهلي بڼونو پوښتنه يې وکړه بيا يې خپله يوه ډېره لويه هيله تر سره کړه، چې د ماشومتوب نه يې په زړه کې وه، چې هغه په پېښور کې د رحمان بابا زيارت و. ارواښاد خالد په دغه لنډه موده کې خپله ټوله مينه او محبت خپلو ډېرو دوستانو او خپلوانو ته ورکړ او د ډېرو خلکو زړونه يې لاس ته راوړل. هر لور ته يې مينه وکرله. خالد د پردېسۍ د ژوند په ټوله موده کې د خپل وطن او خپلو بې وزله خلکو د ديدن ارمان تل کړی دی.

د هغه لويې هيلې په ژوند کې په ګران افغانستان کې د سولې او ارامۍ منځ ته راتلل او د افغانانو ملي يو والی، ورورولي او پښتنه مينه او محبت و.

د غښتلي خالد په اړه د نور څه ويلو نه تېرېږم او د هغه د خپلې خبرې، چې:

الوځي سپرغــــــــــۍ تورې ايرې شي ژر

ژوند داسې تېرېږي چې کيسې شي ژر

نن د خيال څپه کښ لنډ ژوند هم د مينه وړو او خوږو خاطرو نه ډکه يوه کيسه شوه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خالد بارګامي جنازه د هغه د یو عالم نیمګړو هیلو او ارمانونو سره یو ځای د کونړ ولایت د پشد په کلي کې په خپله پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه.

یاد دې راته پرېښود په شعرونو کې

مینه دې پالمه په یادونو کې

ځه خالده لوی الله(ج) دې مل اوسه

ژوند به تېرومه ستا غمونو کې

ز. هیله- ب

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خـــالده

مرگ مې کړو قبول خو په نصیب کې جدايي مې وه

ډکه له ارمانه ځوانيمرگه عاشقي مې وه

ورور به ورورولي وکړي خو ياره ياري نه کوي

ځکه نازېدمه زه چې تاسره ياري مې وه

ستا په يو نظر چې به مې زړه کې ټوکېدل خياله

ستا بېلتون د هغه ارمانونو تباهي مې وه

ما خو ويل چې زهر د پردېس ژوند به يو ځاى وڅښو

ستا په فيصله باندې پوه نه وم ناداني مې وه

چارې د نصيب وې او كه بله مجبوري گله

مرگ سره دې مړه نه شومه لويه ناځواني مې وه

څه د سترگو رپ کې دې د ژوند لار رانه بېله کړه

تاسره خالده څومره لنډه اشنايي مې وه

ز- هيله- ب

2005- 1- 31

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو ژبې د تکړه او خوږ ژبي شاعر ښاغلي سید رحمان وګړپال شعر، چې د خالد بارګامي په یاد کې یې لیکلی دی:

## خـــــالده

ای زما تنه زما روح زما ایمان خالده
څنګه دې پرېښودل ماتم کې ټول یاران خالده

تا خو چې تللې ماسره دې خدای پاماني ونه کړه
خلك چې ځي پالي خو ټول خپل او خپلوان خالده

زما د سترګو اوښکې نه تلې خو نن نه پوهېږم
د تا په مرګ مې اوښکې راغلې په ګرېوان خالده

تل به دې ویل د وطن خاوره مې په سر وشیندۍ
تا د کونړ د خاورو کړی و ارمان خالده

کاشکې چې کړی دې و ماته یوه ورځ انتظار
ما به ورکړی ستا اجل کې و خپل ځان خالده

هلته به ما ثابته کړې وای دا خپله یاري
چې تانه مخکې زما مړی وای روان خالده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حـــــمد

ثومره عظمت لري د خدای(ج) نوم

شان او شوکت لري د خدای(ج) نوم

ژبه يې هم خوند له ويلو اخلي

داسې حکمت لري د خدای(ج) نوم

وروسته له ځانه لومړی خدای(ج) پېژنو

دومره عزت لري د خدای(ج) نوم

هر کار شروع د رب په نوم خوند کوي

ډېر برکت لري د خدای(ج) نوم

رحيم، رحمان دی او کريم دی الله(ج)

هر رنګ صفت لري د خدای(ج) نوم

27- 1- 1370

۞۞۞

## مـــــــلګرو

که زما جنازه پورته شي ملګرو

يو ځل تېره يې کوڅه کې د جانان کړئ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پخپلو سترګو ووينې تابوت مې

بيا نو جوړ زما د مينې نه داستان کړئ

پردېسۍ کې لېونی وطن پسې شوم

د وطن خلکو نظر مې په ګرېوان کړئ

زما هيله آبادي د ګران وطن وه

وطنوالو چې تر سره مې ارمان کړئ

خپل وطن راباندې ګران دی ټول جهان کې

ځم ننګرهار ته بيا کنړ ته مې روان کړئ

20- 9- 1370

□□□

## زما قـــلم

زما قلم د تورو شپو حال ليکي

د ځورېدلو سوو زړو حال ليکي

د کړېدلي ځورېدلي پښتون

د منډو ترړو جګېدو حال ليکي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو د مېړنو نیکونو

دا د هوتکو دورانو حال لیکي

زړه کې مې مینه د وطن هم شته دی

ځکه یې تل د لوړو غرو حال لیکي

## د قـــلم ژبه

د قلم ژبه مې خوږه ده ډېره

د چا د وصل د شپېو حال لیکي

د ورځې لمر د شپې سپوږمۍ ما ګوري

دواړه مې غبرګ د ژړېدو حال لیکي

قلم مې نه ژاړي عالم ژړوي

تل د ریښتیا ریښتیا درد و حال لیکي

خالده ستا قلم چې لیکي ریښتیا

نو خامخا د پښتنو حال لیکي

14- 7- 1360

ننګرهار درونټه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مـــور ته

ستا د قدم په سپېرو خاورو کې جنت پروت دی

ستا په ښېرو دعا کې څومره کرامت پروت دی

د زړه په وینو دې اولاد ته د ژوند لار ښودلې

ستا لارښوونه کې رینښتیا انسانیت پروت دی

چې کړي ټولنه رڼا ستا د مینې اور دی مورې

نا اهل زوی تورې تیارې کې د غفلت پروت دی

د نورو مېندو ته به تل کړي احترام په مینه

د چا په سر کې چې د مور خیال د حرمت پروت دی

هغه انسان ته خالد سر په احترام ټیټوي

د چا په زړه کې چې د مور، خور محبت پروت دی

8- 7- 1369

❖❖❖

## نا اهـــــل اولاد

که یې کعبه کړم په سجده شم ورته

که یې خالق کړم په توبه شم ورته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا هم مور بېل ځای او مقام لري

اولاد یې مور ته احترام لري

هغه اولاد چې د مور پت نه ساتي

د مور مقام تر ځان اوچت نه ساتي

خلك نا اهل اولاد هغه بولي

د کور او کلي فساد هغه بولي

ځکه چې مور ته احترام نه لري

په کور او کلي هم هېڅ پام نه لري

3- 6- 1367

***

## ننـــــگرهار ته

بیا به راشي پسرلی په ننگرهار

بیا به وغوړېږي ښکلی لاله زار

په هر لوري به د مینې ترانې وي

بیا به جوړې دا ویجاړې ویرانې وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې اوس پکې د وينو سيند بهېږي

دا چې ورور د ورور له لاسه وژل کېږي

د افغان په خاوره اور د نفاق بل دی

افغان خپله د خپل کور او کلي غل دی

تر هغو به افغانان خپلو کې وژني

تر څو مينه محبت په زړو کې وژني

د نفاق په سرو لمبو کې به سوځېږي

دښمنان به پرې د تل په شان خندېږي

ننگرهار ته ټول جهان ته خوښي غواړم

ټولې ځمکې ټول اسمان ته خوښي غواړم

غواړم بيا زرغون شي ستا شاړې او دښتې

غواړم نورې کونډې نه شي دا بدبختې

نور يتيم د پلار په مرگ ونه ژړېږي

افغانان په وينو نور ونه لمبېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مينه سوله وروري غواړم هر افغان ته

خوښي ژوند برابري غواړم انسان ته

7- 4- 1367

## ډاكـــټر ته

ستا په خدمت باندې قانع نن ټول جهان وينمه

ستا د احسان په لمن نښتى نن انسان وينمه

ډاكټره ستا د محبت سارى مې هيڅ ونه ليد

چې هره خوا ګورمه ستا جهان ودان وينمه

ډاكټره ته ددې دردمند اولس دردمند اوسه

غريب انسان درته محتاج په هر زمان وينمه

د تور غر په زنګانه به مې سر كېږدم

بې وطنه ژوند به تل تر تله پرېږدم

2002- 6- 30

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سپین رخسار

چې یې حسن لکه لمر هسې ځلا کړي

ګلابي شونډې د مخ ښه زیبا کړي

په اوږو باندې یې تور وېښته خواره وي

نېغ کتل یې د ښکاري په څېر رسا کړي

چې زمونږ کوڅې ته راشي ژر تېرېږي

د رقیب کوڅه کې تل قدم هوسا کړي

په ټپونو مې د مالګې دوړول کړي

چې زما مخ کې د بل سره خندا کړي

غم له غمه نه شرمېږي را روان وي

ما د یار غم له غمونو نه جدا کړي

30- 6- 1367

درونټه ننګرهار

## ســـتا په یاد

ستا په یاد کې به ژړېږم

ستا په مینه به څورېږم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په دې باندې شکمن شم

چې به ستا هېڅ نه يادېږم

که مې ژوند او محبت په پرتله کړم

ژوند نه تېر يم محبت ته خوشالېږم

زړه مې ډك ستا د هوس دی

بې له تا نه په دنيا کله پايېږم

تل مې سترګې ستا په لار وي

په راتلو دې نه پوهېږم

زه خالد تل ستا په ياد کې

په شعرونو کې ډوبېږم

30- 6- 1367

□□□

## ګـــناه

کله چې خوشاله وي وفا کوي

شونډې راکوي راله خندا کوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې زړګی خپه کوي راله

ګوري به اغیار ته او ادا کوي

دا بې مینې مینه په ما څه کوي

نه مې شته ارام دا به همدا کوي

کړې مې خطا وه چې مین دې وم

بیا مې زړه له سره دا خطا کوي

دومره ناروا څوک په چا نه کوي

څومره چې په ما باندې اشنا کوي

6- 7- 1367

درونټه ننګرهار

☒☒☒

## د زړه امـــید

راکړه جانانه د سرو شونډو شراب

دنیا فاني ده عاقبت به یې خراب

ستا د ځوانۍ مستې شپې تېرېږي

کله ستا وصل نه مې زړه صبرېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته همېشه کړې اداګانې ډېرې

دورې د حسن به ستا هم شي تېرې

ستا په ځوانۍ به هم خزان راشي

زما په زړه به بیا ارمان راشي

راشه د زړه امید مې سر کړه اشنا

مینه سوچه لکه سره زر کړه اشنا

نور د فرېب او دروغو لاس واخله

لږ د خالد د مینې پاس واخله

7- 7- 1367

⊠⊠⊠

## خــــــوند کا

ګل په اوربل کې د لیلا خوند کا

د اشنا خوله کې تل خندا خوند کا

نه مې د یار ښخه بېلتون خوښېږي

نه یې رقیب سره موسکا خوند کا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یار په زلفو بندي شوی یمه

د عشق نغمه په بند کې ستا خوند کا

د بې حیا لیلا د لاسه مرمه

د ښکلي مخ سره حیا خوند کا

بې وفایي ښه نتیجه نه لري

د خالد ژوند تل په وفا خوند کا

26- 7- 1366

ننگرهار

☒☒☒

## د غمازانو قافلې

د مینې ژوند کې عذابونه شته دي

غماز رقیب سره جنگونه شته دي

کله جانان درنه خفه شي ناز کړي

بېرته پخلا چې شي په دې کې هم خوندونه شته دي

یا د لیلا نه گیله راشي یا د ځانه گیله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یارۍ ژوند کې ګوره هر رنګه وختونه شته دي

د غمازانو قافلې مخکې او وروسته درومي

د یار د لاسه مې په زړه باندې داغونه شته دي

نادانه یاره ته په مینه باندې څه پوهېږې

غمازان ډېر دي زموږ مینه کې لاسونه شته دي

11- 7- 1367

☒☒☒

## داغــــــي زړه

د تېر ژوند په خاطرو پسې ژړېږم

د څپو په څپرې لاړې نه پوهېږم

چې د شپې په خوب کې راشي کله کله

لېونو په شانته ځان سره خندېږم

بریالی د یار په وصل باندې نه شوم

تر مرګي پورې به زه مدام څورېږم

داغي زړه د یار له کلي یم راغلی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وصل نه غواړم ليدو پسې کړېږم

ورك يم زه خالد په ياد کې يې مدام

ښايي زه به کله يار ته وريادېږم

21- 1- 1993

پطر بورگ روسيه

⊠⊠⊠

## مـــــړه کتل

مړاوې سترکې د جانان او مړه کتل وای

ډکه خوله يې د موسکا او مست خندل وای

په سرو شونډو چې خندل ليلا په مينه

شرابونه وای مستي وای نڅېدل وای

چې تر څنگه راسره ښکلی اشنا وای

څومره ښه به و که داسې شپېې تل وای

بوی چې ښه لري تر مشکو او عنبرو

د جانان د زلفو بوی وای چلېدل وای

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مې مینه راته شمعه بلېدلی

زه خالد ورته پتنګ وای سوځېدل وای

11- 1- 1368

ننګرهار

⌧⌧⌧

## خوند کړي

خندا د ګلو د بهار خوند کړي

د ګل څېره زما د یار خوند کړي

نه چې شکنځلې د لیلا واورم

د خوږې ژبې مې یو ځار خوند کړي

په تورو سترګو یې وژونکی نظر

زما په لوري وار په وار خوند کړي

د غمازانو شاوخوا ډکې دي

مینه زما په زور په جار خوند کړي

مرګ د بې مینې ژونده غوره بولم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مينه بايلم سر په دار خوند کړي

د ورځې يو نظر په ما لوروه

د شپې زما سره ستار خوند کړي

9- 10- 1367

درونټه ننگرهار

❖❖❖

## د مرگ توري خانې

د ميو فکر سر کې ميخانې لره ورځو

جامونو کړنگولو او مېلې لره ورځو

په لاره کې دامونه غمازانو غوړولي

دامونو ته هم گورو هم دانې لره ورځو

زاهده لاره پرېږده وړاندې کېږه مو له مخې

چې نن موږ د رندانو ميکدې لره ورځو

غمونه د دنيا راباندې زيات شولو له حده

بس لږ شانې بې خوده شو بادې لره ورځو

نرۍ لکه ده لار د مساپرو لارويو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ دغه لاره وینو قافلې لره ورځو

د کومې گناه زور دی چې په دې نړۍ ځوریږم
هغه ورځ به هم راشي چې د مرگ تورې خانې لره ورځو

12- 2- 1368

ننگرهار درونټه

❖❖❖

## انـــــدېښنه

د ورځې ناقراره گرځم ستا په اندېښنه کې
د شپې هم یمه غم کې د اشنا په اندېښنه کې

یادونه د اشنا چې راته وخاندي په خوب کې
بستر مې راته اور شي سوځم بیا په اندېښنه کې

په دې باندې پوهېږم چې بې تا مې ژوندون گران دی
ارمان مې هوسېږي د لیلا په اندېښنه کې

دا نه ښایي چې ته بې وفایي راسره وکړې
غمونه راسره دي د وفا په اندېښنه کې
ریبار زما د مینې دوکه ونه کړي وېرېږم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یار ښکلا یې نه کړي د خطا په اندېښنه کې

14- 2- 1368

ننگرهار

□□□

## د زړگـــــي حال

ښکلې نن مې د زړگي حال د پوښتو دی
چې ويشتلی تا په غشو د بڼو دی

د سپرلي د سور گلاب په څېر مې ښکاري
ستا په مينه کې مې ژوند د لېونو دی

خیر که اوس بېلتون زغمو سبا به یو شو
د غماز د هیلو کور په ورانېدو دی

د بې مینې دنیاگۍ نه لاس په سر یم
زړه مې نن د ډېره غمه په سلگو دی

یا به دا دنیا کړم خپله یا به ځان ورته پردی کړم
ما نن مرگ ته ځان نیولی دغه ژوند د پرېښودو دی

14- 12- 1370

□□□

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پوښـــــتنه

لږ خاطر راله کوې اشنا که نه

یو وار شونډې راکوې اشنا که نه

خوب مې ته تصور ته قرار مې ته یې

ته یو خوږ نظر کوې اشنا که نه

زما ذهن آّینه ستا د څېرې ده

ما هم کله یادوې اشنا که نه

رنځ مې ته علاج مې ته رنځور یم ستا

خپل رنځور را رغوې اشنا که نه

مړ احساس به په ژوندي کالبوت کې څه کړم

مړ احساس ژوندی کوې اشنا که نه

چې څوك مینه درنه غواړي هغه زه یم

ته به مینه راکوې اشنا که نه

زه خالد به څو غمګینې مصرې لیکم

ته مې شعر رنګینوې اشنا که نه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



27- 11- 1370

## د ســـــترګو جنګ

چې یار په مینه انتظار وکتل

ماته د ګلو نوبهار وکتل

په مړاوو مړاوو غلي غلي کتو

راته نن خپل ښکلي دلدار وکتل

سرخي د مخ یې نوره هم زیاته شوه

چې مخامخ مې ښکلي یار وکتل

څوك خو شکمن نه شو لږ ووېرېدم

د سترګو جنګ ته مو اغیار وکتل

د ښو غشي مې په زړه کې لاړل

چې ښکلي یار نن وار په وار وکتل

13- 10- 1370

## مــــــین یم

ناروا نه وایم خلکه دومره وایم چې مین یم

که غزل وي که آزاد شعر اشنا ستا یم چې مین یم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارماني زړه مې ټپي دی يو په غشو د بڼو ستا

ما خپل فال د ژوند کتلی زه تباه يم چې مين يم

زه چې ځان در رسومه راته لار کې اغزي شيندي

لار اغزي بندوی نه شي بې پروا يم چې مين يم

ورځ مې ته يې شپه مې ته يې خوب مې ته سودا مې ته يې

لېونو غوندې د خلکو د خندا يم چې مين يم

يا به ستا وصال حاصل کړم يا به مړ شم د بېلتونه

د بېلتون نه په مرګي باندې رضا يم چې مين يم

5- 12- 1370

☒☒☒

## ســــتا يادونه

ستا يادونه راسره دي په زړګي کې

ډېر دردونه راسره دي په زړګي کې

ای زما د تياره ژوند ډيوې بلېږه

ارمانونه راسره دي په زړګي کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښادي نشته خوښي نشته ارام نشته

تش غمونه راسره دي په زړګي کې

ستا په شونډو دې غوټۍ د خندا ګل شي

هوسونه راسره دي په زړګي کې

لکه زېرى د سهار د لمر رڼا يم

مشعلونه راسره دي په زړګي کې

لاره نشته چې منزل ته ورسېږم

تش خيالونه راسره دي په زړګي کې

1- 7- 1370

⊠⊠⊠

## ســـــتا مينه

چې د تنکۍ ميني احساس په زړه کې وخوځېږي

نو د مينو سترګو ډېرې اوښکې وبهېږي

زما رګونو کې ستا مينه لکه وينه ګرځي

ورك دې غماز شي چې په دې خبره نه پوهېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه ماشوم ته چې کوي څوك افسانې د پخوا

دا ستا خبرې ښکلې داسې په ما ښې لګېږي

لکه خوږلن او په ايرو کې پټ سکاره پراته وي

زما هم زړه کې ستا غمونه ياره نه مړه کېږي

لا خو مې هيله شته وفا راسره وکړه ګلې

که ته جفا کوې د مينې کور به ونړېږي

24- 10- 1370

☒☒☒

## خـــطا

خطا وشوه جانانه چې رسوا مې شوله مينه

ځورېږمه په دې چې بې وفا مې شوله مينه

انداز ته يې زمان هم ودرېدلی هك حيران دی

دا ورځ د قيامت نه ده په خندا مې شوله مينه

د حسن جادوګره مې په زړه باندې دېره ده

رسوا شوم په عالم د زړه درزا مې شوله مينه

کچکول لکه ملنګ ستا د ديدن په تمه ورمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



روزګار راڅخه ورك د سر سودا مې شوله مينه

غزلې به د زړه په وينو زه خالد درليکم

شاعر يم ستا د مينې يو پر تا مې شوله مينه

25- 9- 1370

ننګرهار

⊠⊠⊠

## زېـــــرى

چا زېرى راته راکړ چې ليلا راغلې ده

د اوږد بېلتون وروسته ښکلې بيا راغلې ده

ارمان مې غلى غلى راته وموسکېده زړه کې

بيدار شو را اوچت شو چې ښکلا راغلې ده

قسمته تندر نه شې چې مې مينه تندر نه شي

د غم په خاموشۍ کې نن خندا راغلې ده

دا ستا حسن بلېږي كه اسمان كې روښنايي ده

د ژوند تيارې ته ستا د مخ رڼا راغلې ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما هیله همدغه یو دیدن د لرې لرې

ستا ژوند ته مې همېش په خوله دعا راغلې ده

ښکلا او مینه یو لوري ته هم نه لري پولې

د خیال د زړګي مینه یو پر تا راغلې ده

23- 9- 1370

☒☒☒

**انـــسانه**

چې د خدای بنده په یاد وي، وي پرې سخته

که نه کله ځوك خبر وي له خپل بخته

د الله(ج) قهر دې ونه شي په هېچا

که پادشاه وي نو راکوز به شي په تخته

بې ګناه آزاروې انسان انسانه

د قضا په ورځ به تېر وي وخت له وخته

ملایانو ددې وخت نه ګیله مه کړه

خپل کاله له پېوي د جومات ښخته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلې ځلې د دنيا پسې کړې څه له

که نن ستا ده سبا پاتې ده کمبخته

1- 7- 1993

***

## هـــــوس

راته مه وايه يادونه

د ښايسته جانان نازونه

بس يو ګل يم څوريدلی

څه له سپړې پرهرونه

ننني ميني هوس دی

پرونۍ ميني خيالونه

چې د يار زلفو ته ګورم

راته ښکاري تور تمونه

د خيال شعر څومره ساده دی

پوهوي ساده فکرونه

22- 1- 1370

***

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ســــتا یاد

نن چې ستا یاد راته موسکی غوندې شو

زړګی مې مست او لېونی غوندې شو

سوځېړي اور کړي خوشبویي خپروي

زما بدن ټول سپېلنی غوندې شو

که ژوند اغزي لارې اغزي اغزي شي

ستا په راتلو نن پسرلی غوندې شو

د بېلتون شپو يې شينلی خاورې کړ

نن مې د زړه بڼ شينلی غوندې شو

خياله نن ستا د شاعرۍ په خاطر

د يار نظر هم څه ژوندی غوندې شو

29- 1- 1370

## د غـــمونو تور بازار

چېرې چې سترګې مې د يار وينمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناولی مخ مې د اغیار وینمه

لکه ګلاب د پرخې تمه کوي
د شپې نه وروسته روڼ سهار وینمه

د جانان لارې ته مدام ګورمه
بس د غمونو تود بازار وینمه

زه د ګلونو ګلستان کې یاره
تش د یادونو یو انبار وینمه

خیاله جام پرېږده مېخانې ته لاړ شه
مستي مې سترګو کې د یار وینمه

5- 2- 1370

⊠⊠⊠

## یـــــادونه

ډېر مې خوښېږي ستا یادونه یاره
په زړه مې مه ږده نور داغونه یاره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای(ج) ته مې سوال ستا د وصال کړی دی

قحط دې مه شه دیدنونه یاره

ستا له هوښیارو سترګو تېر نه شول

هر څو که پټ مې کړل رازونه یاره

شونډې مې وغوښتې تا رانه کړلې

په زړه مې جوړ شول پرهرونه یاره

خیال له خیالي نظره تاته وایي

په اور مې مه سېځه خیالونه یاره

2- 2- 1370

☒☒☒

## د یـــار بېلتون

بس په مینه ښکلې ستا ښکلې خندا وي

د بېلتون په شپه ساقي او بل مینا وي

یو رباب په ویر لړلی راسره وی

ستا په مینه د مین مطرب ژړا وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ساقي راته پياله کړي تر خولې ډکه

د غمونو دنيا پاتې کومه خوا وي

د بېلتون غمونه داسې ورکېدای شي

که نه بل ډول مين په مرگ رضا وي

ساقي نن د يار بېلتون هم څه نېښدار شو

کاش بېلتون نه وای چې يار مې تل له خوا وي

12- 2- 1369

❖❖❖

## ننــــــداره

ديدن ته بې قراره يم اشنا کله راځې

ما ټول عمر ژړلي دي خندا کله راځې

وږمې د پسرلي نشته دا بڼ راته شړ ښکاري

د شپې تياره کې ورك يمه سبا کله راځې

دا ځل خو ديدن وشو بې وعدې راغلې وې

بس دومره راته وايه چې به بيا کله راځې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وچو شونډو يار ته د لمدو سترګو حال وايم

د مينې دې مجنون ته تر بيديا کله راځې

زه ستا په ننداره کې ننداره شومه پخپله

د مينې ولولو سره ليلا کله راځې

زه مړی حسابېږمه بې ستا د ليدو ياره

د مړي رغېدو ته مسيحا کله راځې

23- 12- 1370

درونټه ننګرهار

⊠⊠⊠

## بــــرخه ليك

د شپې تيارو کې د رڼه سبا خوبونه وينم

د لېونتوب نشو کې ډوب د چا خوبونه وينم

د ياغي ذهن سمندر مې په څپو راغلی

د ګل په څېرې غوړېدلي ستا خوبونه وينم

لښکر د حسن دې زما د زړه کلا نيولې

خلك ويده دي زه په ويښه لا خوبونه وينم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وخت قضا ناکام انسان کړمه ګناه مې څه ده

هیلې مې اوس هم شته اشنا چې ستا خوبونه وینم

دا برخه لیك دی چې ته شرق او زه یې غرب ته کړمه

که نه زه ښکلي ننګرهار کې ستا خوبونه وینم

29- 3- 1371

مکروریان کابل

☒☒☒

## خـــاطر

زما لاس اغزو وهلی دی وېربېږم

د ګلونو پېرزوینه په ما مه کړه

په لمبو باندې مې سوې څېره ګوره

شونډې راکړه اشنا دومره تعدا مه کړه

په ښکاره ژوندی ګرځېږم خو زه مړ یم

یو ځل راشه ته زما مسیحا مه کړه

خاطر وکړه ددې خوار عاجز زړګي مې

له ما تمه د پیسو او دنیا مه کړه

زه خالد کچکول په لاس دیدن دې غواړم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که پېرزو کړې خو همدا کړه سپوا مه کړه

3- 1- 1993

□□□

## غزل

زه شرابي نه يم خو د يار په ياد مې ځښلي دي

دا چې زه نشه يم دا مې ټول په ځان منلي دي

دلته ښکلې ډېرې دي خو لاس د وېرې نه وروړم

ماته چې راغلي ما د يار په ياد شړلي دي

هره شپېبه ژاړم ستا د مينې د غمو سره

داسې راته ښکاري تا هم ما پسې ژړلي دي

نن مې سترګه رپي ښايي تا سره ديدن وکړم

لارې د راتلو مې درله هر وختې څارلې دي

نه کوم ګومان چې بې له تا به ژوند امکان لري

ستا بېلتون ته ما د مرګ په سترګه تل کتلي دي

4- 1- 1993

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پطر بورگ

※※※

## شـــــونډې

خیال کې جوړ کړمه د مینې تود پالنګ
پکې ونیسم جانان خپل ځنګ په ځنګ

زه د خلکو د خندا شومه په مینه
خو جانان مې هېڅ ودرېږي نه په ننګ

زما شونډې د بېلتون باد ووهلې
داسې وچې لکه دېګ چې وکړي منګ

د جانان د وفا هېڅ نشته خبر
زه یې تل په سر غماز سره په جنګ

زه به دې ښکلې دنیا باندې څه وکړم
چې مې ښکلې پېغلې نه راځي په ځنګ

چاته سور ګل بختور شي چاته زېړ ګل
ماته ګل بختور نه شو په هېڅ رنګ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیاله ستا په برخه لیك كې به همدا وي

چې مدام دې پښې ښویېږي له ګرنګ

17- 9- 1370

☒☒☒

## اجـــــل

لیلا بېګاه مې خوب كې ستا وربل لیدلی و

دا خپل زړه خو مې ستا د شونډو غل لیدلی و

یوازې ستا د مخ خیال راسره و په تیارو كې

په پټو سترګو ما د غم اجل لیدلی و

چې سترګې مې كړې خلاصې سپین سهار و شپه وه تېره

د شپې تیاره كې ما یو خیالي ګل لیدلی و

د ورځې مې دیدن د لیلا كله شي كېدی

په خوب كې مې د تورو سترګو ځل لیدلی و

د مینې مستي وه خود سهار هستي نېستي كړه

ژوندی مې د مین شاعر غزل لیدلی و

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



13- 9- 1370

## خـــــبرې

که هر څو بدې ګڼې زما خبرې

خو يو ځل واوره زما ليلا خبرې

اوس زه ستا د مينې هغه لېونی يم

چې کوي خلك زما او ستا خبرې

که باور دې زما مينه باندې نوي

لږې واوره بيا د شاوخوا خبرې

زه نيمګړې خاطرې په کاغذ ليکم

ستا هر ناز کوي دنيا دنيا خبرې

نړيوال ډېرې خبرې کړي خو واوره

په ما ښې لګي د خوږ اشنا خبرې

چې ته مخامخ خندا شاته ښکنځل کړې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه خلك كوي خامخا خبرې

گوره سترګې مې دا ستا مخکې شرمېږي

د کاغذ په مخ درلېږم دا خبرې

که په اور باندې يې وسېځې کاغذ دی

ما پخپل زړګي ليکلې ستا خبرې

## د ژوندون استازي

د شپې تيارې ستا د بېلتون استازي

وړانګې د لمر د سباوون استازي

سباوون ستا د مخ په څېر روښانه

دا روښنايي وي د ژوندون استازي

يوازې نن شعر بې له درده ليکم

ستا نه هم غواړم د بدلون استازي

راشه يو ځای شو او يو زړه شو سره

راوړه په ژوند د پيوستون استازي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هر څو ستا د مینې خیال ساتمه

بس ته رالېږې د جنون استازي

9- 7- 1370

■■■

## پــــــخلاینه

په ناروا کې نن روا ښکاره شوه

چې په لیلا کې نن حیا ښکاره شوه

نسیم خوښۍ څخه ګډا کوله

چې د نرګس خوله کې خندا ښکاره شوه

مرور بېرته پخلاینه وکړه

چې پښتنې کې مینه بیا ښکاره شوه

د هوس مړاوی بڼ مې وغوړېده

چې د ساقي لاس کې مینا ښکاره شوه

نیم ژوانده هیلې او نیم ژوانده ساه شي

چې د دیدن تمه دا ستا ښکاره شوه

سپېرو ایرو کې د لعلونو په څېر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خیال قلم کې هم ښکلا ښکاره شوه

4- 12- 1369

***

## خـــــــوږ نظر

کله بلبل شم او سنبل خوښوم

کله مین شم تور وربل خوښوم

ستا د بېلتون په اور سوځېږمه زه

چې درنه لرې یم اجل خوښوم

ای ښکلې ناز پرېږده نخرې مه کوه

زه ستا د شونډو خندا تل خوښوم

یو خوږ نظر خو راته وکړه یو ځل

په هر انداز کې ستا خندل خوښوم

که څوك پوښتنه کړي مین په څه یې

وایم د یار د سترګو ځل خوښوم

چې مې جانان په ننګرهار کې اوسي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه نه کنړ او نه کابل خوښوم

چې د خالد د غزل تال پرې جوړوي

ستا اننګې او موسکېدل خوښوم

7- 6- 1369

☒☒☒

## مـــــخ د جانان

نن مې مينه کې ډوب شوی خپل ځان ولید

د سپوږمۍ په څېر مې مخ د جانان ولید

هغه زلفې چې يې ژوند راته تياره کړ

د هغو زلفانو منځ مې روښان ولید

نور به زه د يار نظر پسې نظر کړم

چې مې سترګو د جانان کې خپل ځان ولید

بيا به اوښکې تويې نه کړمه له سترګو

که مې ستوری د وفا په اسمان ولید

خدای(ج) دې نه کړي ښکلی يار رانه جدا نور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس دی یو ځل مې د مینې هجران ولید

خالد مست د یار په مینه غزل وایي

که رټل یې د جانان هر زمان ولید

3- 8- 1369

☒☒☒

## ســـــوی کتاب

زه خو ساقي نه یم چې له مانه شراب غواړې

ځه چېرې سپرلي ته د خزانه شباب غواړې

اوس یې رژېدلې پاڼې خنګه زه راټولې کړم

ته زما د مینې هغه سره سره ګلاب غواړې

تل یم تا رټلی بد و ردو او ښکنځل باندې

ته هیله له ما څخه د کوم ښه خطاب غواړې

ما چې کړله مینه بس عذاب زما په برخه و

زه هغه مین یم اوس له مانه ځواب غواړې

ستا بې وفایي چې سره لمبه کړلو او وسوځېد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته زما د هیلو هغه سوی کتاب غواړې

2- 7- 1369

ننگرهار درونټه

⊠⊠⊠

## پښتون احـــــساس

تر اوسه لرِه لار شته د منزل تر رسېدو

لا شوندې لرِې لرې دي د یار تر ښکلېدو

په هر قدم کې اوښکې تویول دي لار اغزنه

د مینې په لور تلل دي زړگی کله صبرېدو

که نه مې کړلې خپله ای زما پښتنې مینې

د ژوند په لار به څنگه ږدم قدم د لوړېدو

پښتون سره چې مل نه وي پښتو پښتون احساس

که زه اوسم که بل څوك سر يې دی د غوڅېدو

20- 10- 1369

⊠⊠⊠

## بندي د غــــــم

په گلانو پېرزوينه د شبنم وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر سهار چې د ګلونو مخ پرې نم وي

خو پېرزو په ما ونه کړله جانان
ځکه زړه مې همېشه بندي د غم وي

د ژوند لاره ده لا ډېره راته پاتې
خو د يار غم همېشه د زړه مرهم وي

چې صنم ورته ووايم نو ښکنځل کړي
چې په خپله نظر کړي نظر يې سم وي

دا عجيبه نړۍ خدای(ج) ده پېدا کړې
چې ښايسته شي نو غرور ورسره هم وي

خياله ځه چېرې مظلوم حسن پيدا کړه
د بډای حسن خو توره د ظالم وي

18- 10- 1369

درونټه ننګرهار

☒☒☒

**ســــــتا كاته**

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په نظر کې چې هر څه راځي

زما نظر کې ستا کاته راځي

هر څو که ته يې په وفا نه کوې

ستا د نظر غشي په زړه راځي

ډيوه مې ذهن کې بلېږي مينه

چې ډيوه نه وي نظر نه راځي

اوښکو نن پرېږدئ چې ديدن وکړمه

چې يار مې لاړ شي بيا به نه راځي

د بېلتون ساعت د قيامت ورځ جوړوي

چې اشنا وي قيامت په څه راځي

17- 9- 1367

☒☒☒

**خــــواږه دردونه**

خواږه دردونه مې سينه کې پټ دي

د زړه ټپونه مې سينه کې پټ دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د یاد یاد په یادولو یاره

د غم یادونه مې سینه کې پټ دي

ما د بېلتون په لمبو مه سېځه نور

د زړه سوالونه مې سینه کې پټ دي

که د سینې اسرار ښکاره کړم درته

ډېر جهانونه مې سینه کې پټ دي

ټکور به نه شي د سینې ټپونه

ډېر پرهرونه مې سینه کې پټ دي

1- 9- 1369

☒☒☒

## رنگین پسرلـــــــی

که رنگین پسرلی بیا شي

ښکلی یار به مې بیا راشي

د خواږه اشنا تر څنگه

د مودو مودو یوازې

زړه مې یو دم په خندا شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که رنګین پسرلی بیا شي

ښکلی یار به مې بیا راشي

چې یې ښکلې څېره وینم

مړاوې هیلې مې تازه شي

دردمند زړه مې لږ هوسا شي

که رنګین پسرلی بیا شي

ښکلی یار به مې بیا راشي

هره کرښه چې لیکمه

هره پاڼه چې تورومه

ټوله مینه د لیلا شي

که رنګین پسرلی بیا شي

ښکلی یار به مې بیا راشي

شرابي سترګې یې ښکل کړم

د نشې په هوسو کې

ښکلې سترګې یې ځلا شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که رنګین پسرلی بیا شي

ښکلی یار به مې بیا راشي

د یار سرې شونډې چې ګل شي

تور ماران يې زلفې ول شي

تن مې ټول یو دم حیا شي

که رنګین پسرلی بیا شي

ښکلی یار به مې بیا راشي

هر پړاو نه چې شم تېر

هر قدم کې مې خوښي وي

هر قدم راته وفا شي

که رنګین پسرلی بیا شي

ښکلی یار به مې بیا راشي

په تیاره شانې جونګړې

ستا د مینې روښنایي شي

توره شپه به مې سبا شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که رنگین پسرلی بیا شي

ښکلی یار به مې بیا راشي

چې د مینې باران وشو

د بوډۍ د ټال په څېر

رنگین خیال مې په هوا شي

که رنگین پسرلی بیا شي

ښکلی یار به مې بیا راشي

1369

درونټه ننگرهار

☒☒☒

## بـــــلبل

دا چې یار راته په ناز باندې کتل کا

د بڼو په غشو زما د زړه ویشتل کا

د گلاب په څېر یې شونډې غوړېدلې

د گلانو په څېر ډکه خوله خندل کا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړکې هم ددې د تګ په تماشه وي

په وينا کې د مينا په خبر ويل کا

چې يې زړه شي چې ولجه د زړونو وکړي

هغه دم په تورو سترګو بيا کجل کا

د نظر خاوند يې حسن ته حيران شي

که شاعر وي نو د شعر ديوان کامل کا

د بلبل نغمې خوږې وي له هر سازه

خيال به هم د يار په مينه ځان بلبل کا

17- 2- 1368

***

## ښـــــکلی ننګرهار

د سپين غر په شنه لمن کې

يو پراخه لاله زار دی

اولسونه پکې اوسي

دا خو ښکلی ننګرهار دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نرګس غاټولو کور دی

د ګلونو نوبهار دی

د دوستانو سره دوست

تښتولی یې اغیار دی

د تاریخ پاڼو کې نوم یې

لیکل شوی افتخار دی

ننګرهاره ستا په زړه کې

د غازي امان مزار دی

ننګرهار دې تل اباد وي

خیال نه پاتې په کې یار دی

10- 9- 1369

## ړونـــــــد

دا څه پسرلی دی چې ګلونه پکې نه وینم

څه ننداره ده چې رنګونه پکې نه وینم

ګورمه زه چې د نړۍ انسانان څومره بد دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلو کې لاره کړي د عصر لېوان ځومره بد دي

انسانيت په بينا سترګو باندې نه شي ليدی
دغه بې مينې او ړانده بينايان څومره بد دي

زما نړۍ د خيال انځور دی فسادونه پکې نه وينم
يوه بې رنګه ننداره ده چې رنګونه پکې نه وينم

دوی په خبرو يو د بل څخه ښاغلي ښکاري
ورسره ګېنم چې په زړه راته داغلي ښکاري
دوی په ګيلو ګيلو نړۍ څخه زړه توري کړمه
خو په باطن مړاوي ګلان راته اغلي ښکاري

زه په خبرو کې تېروځم عملونه پکې نه وينم
بې رنګه ژوند دی هېڅ رنګونه پکې نه وينم

27- 10- 1370

## د شـــــعر ښکلا

د ليلا د يارانې اخر همدا وي
چې مين يې په بيديا باندې رضا وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



روغ انسان د لېوني په شانې ګرځي

چې د مينې په جادو څوك مبتلا وي

نه يې خلك نه يې كور كلی خوښېږي

ځناورو په څېر ځېرمه په صحرا وي

رنګ يې تك تور لكه اور كې چې وي سوی

مدام خدای(ج) ته په زاريو په دعا وي

ورنه غواړي خپله مينه

كله سوال كله ژړا وي

د ليلا د عشق جنون كې

د مجنون دغه دنيا وي

قيس مجنون شي لېونی شي

همدغه د وخت سزا وي

د مجنون د مرګه وروسته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه یاده وفا وي

د لیلا او مجنون مینه

د شاعر د شعر ښکلا وي

28- 9- 1370

## ســـــودا

په خندا کې په ژړا شوه

با وفا وه بې وفا شوه

لاس يې ووېستو د غاړې

بې حيا وه باحيا شوه

نېغې سترګې يې کړې ټيټې

ناڅاپي خپه ليلا شوه

ما ویل ولې ژاړې ښکلې

څه ګيله دې بيا له ما شوه

ولې شوې له غېږې لرې

مينه ستا ولې بلا شوه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويلې لاړ شه خيال مفلسه

ستا تش جب ته مې سودا شوه

11- 2- 1370

## د نرگـــــس حسن

د غاټول ټوله ښکلا

د يار له نازه لوگی

د نرگس سپين حسن هم

ستا له اندازه لوگی

د ميو ډك خومونه

د ساقي ټوله هستي

د شوره ډك سرونه

د نشو ټوله مستي

ستا په خندا کې نغښتی

د يوه سازه لوگی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نرگس سپین حسن هم

ستا له اندازه لوګی

د ځوانۍ ټول غرور

د غیرت ډك زړګی

د وجود جوړه خونه

د عظمت ډك کوړګی

د یار په نرمه ژبه

د یو آواز لوګی

د نرگس سپین حسن هم

ستا له اندازه لوګی

9- 7- 1370

☒☒☒

## ژونـــــد

شین چمن وای د ګلانو

ډله جوړه د مستانو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نړۍ کې هېڅ غم نه وای

محفل تود وای د رندانو

هغه وخت به ژوند ژوند یاد شي

هغه وخت به ژوند آّباد شي

بچ د غم د تاړاکونو

لرې لرې د دردونو

مینه وپېژني هر څوك

زړه شي تش له ارمانونو

هغه وخت به ژوند ژوند یاد شي

هغه وخت به ژوند آّباد شي

د انسان ژوندون هوسا وی

زړونه پاك د هر يو چا وی

غم او وېره نه وی زړه کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



درد زبون ورك په دنيا وی

هغه وخت به ژوندون ښاد شي

هغه وخت به ژوند آباد شي

12- 8- 1370

□□□

## شـــــكايتونه

زما غم رانه هېر كړي دي شعرونه

درد ځپلی یمه نه وایم حالونه

بيماري مې د دردونو حال نه وايي

دردوي مې همېشه خواږه يادونه

خاطرې مې لا ژوندۍ دي په زړگي كې

خو افسوس ليكلی نشمه نظمونه

درد د مينې او هجران يو بل كې تاو دي

ښكاري دا چې مې ډوبېږي غزلونه

د درې كاله نه مې پس قلم را اخيستی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی کار مې شو لیکل شکایتونه

20- 9- 1995

◻◻◻

**په یورپ کـــــې**

ناولتوب ته مینه وايي خلك دلته

چې شراب وڅښي دوا کوي یو بل ته

غولول دلته رواج په هر قدم دي

اوښکې قدر نه لري پردي او خپل ته

چې پیسې ورکړې بادشاه یې هم خرڅېږي

بې ګناه وژني سلام به کوي غل ته

په کوڅو کې به خواره واره پراته وي

د شرابو سیند راوړي وي ساحل ته

◻

چې رایادې خاطرې د خپل وطن شي

د یورپ جامې مې ځان پورې کفن شي

بې وطنه بادشاهي هم مزه نه کړي

که په تخت د زاړه روم یا د لندن شي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د و طن سپېره مخونه خواږه لګي

د یورپ ښکلي مخونه دې قدغن شي

3- 2- 1993

## خــــپل وطن

د روسيې په سړه خاوره کې ایسار یم

غواړم ووینم پیتاوی د خپل لمر

بې احساسه او سړې کوڅې د واورو

ځار د واورو چې پرتې دي په سپین غر

د بې ستورو اسمان لاندې شپې تېرېږي

په ما بد لګېږي دلته مازدیګر

د کنړ د سیند اوبو نه یو ګوټ راکړئ

خراب کړی مې مسکو اوبو ځیګر

آرام ژوند د پردېسۍ کې لېونی شوم

رایادېږي راته خپل وطن کې شر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



15- 1- 2003

☒☒☒

## د نرگـــــس گلونه

په يو لرې شان صحرا کې

د پراخ سمندر څنګ ته

د نرګس ګلونه شنه وو

په خندا خندا هر لور ته

په موسکي نظر کې مينه

په هر چا پېرزو کوله

ما هم پرانيسته خولۍ د خپل نظر

پکې راپې کړله مينه

مينه مينه مينه

15- 4- 1369

ننګرهار درونټه

## هـــــيلې

د سبا نسيم يې غوږ ته زېرى راوړ

چې به بيا غوټۍ ګل کېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتظار نور ختم شوی

په چمن به خوشبويي شي

شنې غوټۍ به سره ګلان شي

چې په هيلو د سبا وې

اّه چې ژوند ته هوسېږي

13- 9- 1369

ننګرهار درونټه

☒☒☒

## پښتنــــــې

چې مين دې په رخسار شوم پښتنې

ستا د ښکلو سترګو ځار شوم پښتنې

د ليدو په قدر ستا نه پوهېدمه

په ارمان ستا د ديدار شوم پښتنې

بې وطنه ژوند د مرګ ارمان راوستی

لېونی په بل ديار شوم پښتنې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاته مخامخ کتو کې څه اثر و

انکاري وم په اقرار شوم پښتنې

په خوږو د ژوندون څکه اوس پوهېږم

خالد ستا د غاړې هار شوم پښتنې

15- 1- 2003

⊠⊠⊠

## وفـــــا

که صداقت که دې وفا زړه کې وي

جانانه زه هم جفا نه غواړم

د مينې اور که دې په زړه اثر کړي

ما هم د مينې زور ليدلی اشنا

که خوله دې غلې ده نو هم پوهېږم

په چپو خولو کې ډېر رازونه پټ وي

سترګې دې هم راته خبرې کوي

خير که سينه کې اوازونه پټ وي

15- 6- 1367

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ستا په شونډو کې موسکا خپره شي

زما په زړه کې تمنا خپره شي

ښايست دې زر ځله نور هم زيات شي

چې په څېره کې دې حيا خپره شي

14- 9- 1367

درونټه ننګرهار

## بـــــــرخه ليك

خدای(ج) پيدا کړي تور او سپين انسانان

څوك بې کتابه څوك د دين پيروان

دغه وېشنه د الله(ج) ده چې څوك څنګه

څوك پروت په ځمکه څوك اوچت تر اسمان

8- 10- 1369

## شـــــاعر

زه شاعر يم ما ليدلې دا دنيا ده

د ښځې په شان يې مينه بې وفا ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه نړۍ لټوم چې پاتې په وفا وي

نه چې مينه يې په رنګ ددې دنيا وي

2- 7- 1369

***

## تـــــېر شو

زما خو عمر ستا د وصل په ارمان کې تېر شو

د طوفاني بېړۍ په څېر تل په طوفان کې تېر شو

د غم څپېړو مې په مخ باندې داغونه ايښي

د زخمي زړه طبيب مې لاړو په ځيګان کې تېر شو

6- 7- 1367

## ګـــــرځم

د مينتوب ساقي د مينې جام راکړه

چې په ارمان يې زه ژوندی ګرځم

د ښکلو سترګو نه الهام راکړه

چې يې په مينه خندنی ګرځم

وخوره ځواني د مينې غم زما

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وصل شپې پسې ګرندی ګرځم

27- 6- 1367

☒☒☒

د ګلونو پسرلیه راشه

په راتلو دې مست بلبل شي

چې د زړه غمونه لاړ شي

چې د مینې غوټۍ ګل شي

22- 9- 1369

انتـــظار

ستا انتظار په ما ماتم راولي

هره ګړۍ راته یو غم راولي

هر ګړۍ د ګودر لارې څارم

چې به مې کله خدای(ج) صنم راولي

3- 6- 1369

☒☒☒

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عـــــشق ګناه

عشقه لېونی دې کړمه زه هجران کې وسومه

وصل ته مې زړه وي خو په دې ارمان کې وسومه

مینه یو عذاب دی د ژوندون لار کې

خدایږو زه په دې عذاب کې وسومه

خلك د ځوانۍ نشه کې مست ګرځي

زه د عشق ګناه باندې په خپل شباب کې وسومه

6- 4- 1367

⊠

بربادي خو دغه نه ده چې به مړ شم

هغه ورځ به زه تالا یم چې بې تا یم

وصال نه غواړم دیدن خو به مو وشي

بې دیدنه په مرګي باندې رضا یم

7- 10- 1370

⊠⊠⊠

## خـــــوږې شېبې

برایې یې سترګې ښکلې ښکارېدلې

مخامخ یې نه کتلې شرمېدلې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورې زلفې يې په ولو راپرتې وې

نرمې شوندې يې بې واره رپېدلې

د يار سترګو کې عجيبه شان ځلا وه

د وصال په شپه کې شمعې بلېدلې

غېږ په غېږ خوږې شېبې د يار په څنګ کې

د برېښنا په شان په پړق کې تېرېدلې

د وصال د شپې سهاره څه دې وکړه

څو شېبې دې په ما نه پېرزو کېدلې

6- 9- 1367

☒☒☒

چې د ذهن په هينداره کې مې ستا تصوير ښکاره شو

ساده زړه مې د ژوندونه آهواره شو

دا به هم د کوم يو چا سپېرې ښېرا وې

چې ليدل دې بس يوازې خاطره شو

7- 11- 1370

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خـــــيال

کله خال د يار د مخ شم

کله خيال د يار د مخ شم

چې يار شمعه شي پتنګ شم

د بېلتون له ژونده تنګ شم

يار چې ګل شي زه بلبل شم

يار چې مينه شي غزل شم

31- 3- 1369

⌧⌧⌧

## ګل او بلبل

نن بيا شو بلبل مست ستا په ليدو

ای ګله ستا خندا کې بلبل څه اثر ليدو

چمن کې سرو ګلونو ته د مينې نغمې بولي

مين چې په ګلونو دی بلبل په چغېدو

اختر به و جوړ شوی بيا د مينې پسرلي کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ځکه بلبل ژر ژر په چمن راڅرخېدو

23- 4- 1369

⌧

نن يې په سرو شونډو خندا نه وه

نن يې مستي او ناز ادا نه وه

پرون يې مسته په خندا دنيا کړه

نن هغه مسته شان ليلا نه وه

20- 4- 1369

⌧⌧⌧

⌧

گلونه په خندا شول پسرلی راغلی دی

د سولې سره يو ځای گلالی راغلی دی

سپرلي يې گلونه د وروری زموږه زړو کې

د مينې او وروری شين شينلی راغلی دی

30- 3- 1369

⌧

زما مينه د جنون ده خو خطا نه ده

چې هر گل بويوي د هغه چا نه ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د هرې ښکلې مخ پسې نظر کړي

د هغوی مینه ریښتیا چې وفا نه ده

20- 3- 1369

⊠⊠⊠

ای د خوږ ژوندون پیغامه

ای د خوږ ژوندون ارمانه

تا کې شته دي ډېر خوندونه

ای د مینې خوږ دورانه

29- 6- 1367

⊠

که هر څو اوښکې ودرومه نه ودرېږي

خوار زړګی مې تل دتا پسې ژړېږي

اوښکو جوړې کړلې لارې په رخسار

چې جانان راځخه ولې جدا کېږي

9- 8- 1369

⊠

چې څوك مینه په بهار کړي

په غمونو به ځان خوار کړي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کړي مینه په رېښتیاوو

ځان به ژوند سره اغیار کړي

26- 5- 1369

## ســــــتا یاد

چې ګلان زیات شــــــي بلبلان زیات شي

چې مستي ډېره شــــــي خوبان زیات شي

خوبان چې ډېر شـــــــي لېونیان زیات شي

ستا یاد چې راشي کله په زړګي کې ارمان زیات شي

26- 11- 1369

☒

ګلونه لاړې د سپرلو ښاري

غمونه لار د خوشالو ښاري

سپوږمۍ د شپې د راتلو تمه کوي

سترګې مې لار ستا د راتلو ښاري

31- 1- 1376

☒

راغله ژړا چې مې لیلا رانغله

نن یې وعده وه بې وفا رانغله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به يې خنګه لاره نه څارمه

پرون رانغله او نن بیا رانغله

28- 4- 1368

## زمــــا نظر

زما نظر کې ټول جهان تیاره دی

لکه چې ذهن د نادان تیاره دی

نه يې سپوږمۍ او نه يې ستوري ښکاري

په توره شپه کې شین اسمان تیاره دی

هسې خو هم دغه نړۍ کې ژوندون

د هر بې کسه شان انسان تیاره دی

نن چې مې ستا په نوم قدم جګ کړی

په هر قدم کې مې روښان تیاره دی

13- 1- 1370

خیال چې د یار راسره مل شي

په زړه مې اور د مینې بل شي

د دیدن په شیبه یار ته کتی نه شم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کتو مې ځای د یار د سترګو تل شي

19- 4- 1369

□□□

□

راته وخانده ای ګله د بهار

ته چې خاندې راته یاد شي ښکلی یار

بې خندا مې په بل کار وس نه بریږي

په ژړا به مې خوشاله شي اغیار

22- 4- 1368

□

سپرلو کې اوسېدلم ما خزان لیدلی نه و

اشنا وم د چمن ما بیابان لیدلی نه و

د مینې په دنیا کې اوسېدلی وم همېش زه

د یار سره یو ځای وم ما هجران لیدلی نه و

-1368 -4 -17کابل

□

خبره مې د مینې تر جهانه رسېدلې

د مینې ولوله مې تر ایمانه رسېدلې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلتون زغملی نشمه جانانه دیدن راوړه

د وصل تلوسه مې تر ارمانه رسېدلې

8- 4- 1368

د څو شېبو انتظار راته پېړۍ شي کله

په انتظار انتظار تنگه نړۍ شي کله

د ژمي شپه کې د بېلتون پالنگ هډونه سېځي

یوازې ځان باندې توده د خوار شړۍ شي کله

22- 12- 1370



که ته سترگې رانه واړوې جانانه

سترگې اړومه زه له دې جهانه

ستا د زلفو په ماښام کې چې شم ورك

هله ووینم سپوږمۍ د مخ روښانه

5- 7- 1370



ستا دیدن راته سور اور شي

ستا نظر چې په بل لور شي

د رقیب سره چې وخاندې جانانه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندې ځمکه پاس اسمان مې راته ګور شي

31- 1- 1371

⊠

ساقي زه نن درنه صهبا غواړمه

په ميخانه کې بيا غوغا غواړمه

زه دې پيالې سره نن کار نه لرم

که راکوې ټوله مينا غواړمه

14- 3- 1370

⊠

خاطرو کې دې اوسېږم او ژړېږم

له وختونو نه پټېږم او ژړېږم

په تياره کې چې څوک ورک شي پروا نشته

روښنايي کې زه ورکېږم او ژړېږم

12- 1- 1371

⊠

رابه شي سپرلي ډېر خو بې تا چې وي پرې څه وکړم

وبه وينم ښکلي بې وفا چې وي پرې څه وکړم

خاندي که دنيا راته له هرې خوا چې ته نه يې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نړۍ بې ستا ټوله زما چې وي پرې څه وکړم

13- 1- 1370

چې ستا د زلفو خوشبويي مې په کوڅې خپره شوه

توره تیاره د رقیبانو په اسرې خپره شوه

ستا مینه ناکه خندا نن زما په زړه کې ګلې

لکه سور شال د شهید زړه په مقبرې خپره شوه

8- 1- 1370

نن مې په زړه د ګل وړمه راغله

چې مې لیلا نن په کوڅه راغله

شونډې که وچې وې خو ومسکېدې

چې د خندا د بڼ څپه راغله

20- 12- 1369

ستا د هوښیار نظر په دام راغلم

راتلم راتلم د عشق په جام راغلم

ما د رڼا په لور تکل کړی و

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ستا د زلفو په ماښام راغلم

15- 12- 1369

## د ګلونو وږمې

روڼ سبا نسیم روان شو د ګل خوا ته

توره شپه کې نڅېدو د غرونو شاته

ویل مې څه له هر سبا راځې ته بڼ ته؟

ویلې وړم وږمې د ګلو هرې خوا ته

ویل مې دا ښېګڼه چا سره کوې ته؟

ویلې دا د ژوند پیغام ټولې دنیا ته

13- 12- 1369

□

زما د ژوند د تور ماښام د تورو شپو ملګرې

د بېلتون وخت کې د بې واره اوسېلو ملګرې

د سپین سبا د رسېدو په امیدونو کې مل

د مینې ژوند کې د بېلتون د تېرېدو ملګرې

5- 5- 1367

□□□

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



⊠

ستا د سترګو نشه زیاته له شراب

لا به کم وي چې لوګی کړم ترې شباب

ته نازونه کړه ستایل یې زما کار دی

یوه ورځ به ترېنه جوړ کړمه کتاب

15- 1- 1370

⊠

شنه غوټۍ وغوړېږي سور ګل شي

بختور ګل وي چې ځای یې په وربل شي

خدای(ج) دې ما هم د جانان د وربل ګل کړي

چې د هر رقیب په زړه باندې اور بل شي

15- 1- 1370

⊠

زما د هیلو غوټۍ مخ په غوړېدو دي

د سپرلي ورېمې ورو ورو په زیاتېدو دي

ورځ په ورځ غوټۍ د مینې سره ګلان شي

په سپرلي کې د یار سترګې د لیدو دي

15- 1- 1370

⊠

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ته ټوله نړۍ پاکه کړې د غم

غم زما سره اموخت لري هر دم

په ليدو يې هر وګړی حيرانېږي

که څوك وګوري زما د زړګي چم

27- 1- 1370

هلته د ژوندون هيله نڅا کوي

هلته انسانان ژوند په رېښتيا کوي

چېرته چې د سولې مرغۍ الوځي

هلته مينه خوند بيا د ليلا کوي

18- 12- 1369

## زمــــــونږ ميکده

زموږ خپله ميکده ده خپل شراب دي

دلته هر څه چې اړتيا وي بې حساب دي

دلته خپله شونډې خپل جام ته رسېږي

دلته هر ساقي په خپل حساب پوهېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته هر رند د رندۍ په قانون ګرځي

دلته هر کاواك قدمه انسان پرزي

23- 1- 1370

## ګل

د پرون شنه غوټۍ وي

د نن چې سور ګل شي

سبا ته پاڼې رژوي

خاورې غندل شي

ژوند هم د ګل په شان دی

هره ورځ يې رنګ بدل شي

❖❖❖

## ګـــــــناه

دلته چې قدم ځوك په رېښتيا کېږدي

خلك يې نوم ورله جفا کېږدي

دلته بازار د تهمت ښه ګرم دی

دلته وفا کول يو لوی شرم دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدايه ددې ځايه پنا غواړمه

د جانان شونډو نه ګناه غواړمه

7- 2- 70

□

دا بوی د مشکو د ختن راځي

که مې بادونه د وطن راځي

په مساپرو وطنوال خوږ لګي

لکه دارو يې په بدن راځي

31- 1- 1370

□□□

## د نارنـــــج ګل

نن په ښکلي ننګرهار کې د نارنج د ګل مېله ده

ستا ديدن ته مې جانانه ځکه ډېره تلوسه ده

د نارنج د ګلو بوی کې ننګرهار ټول عطرګين دی

بوراګانو جوړه کړې په چمن بيا هل هله ده

18- 1- 1371

□

ستا يادونه چې راياد شي کله کله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ناښاد زړه مې پرې ښاد شي کله کله

که تا نه وينم نو ياد خو دې رالېږه

چې د زړه بڼ پرې آباد شي کله کله

17- 10- 1992

پېښور

□□□

## د مينې زلـــــزله

دا د زړه کلا مې ړنګه ستا د مينې زلزلې کړه

يا د بخت ظالم ګذار و يا خو ورانه زمانې کړه

د يادونو درانه بار مې بې اجله مرګ نصيب کړ

په قبره کې مې زړه تنګه ستا د مينې پلوشې کړه

د وختونو په پنجره کې را ايسار لکه توتي شوم

دا تعدا د هسك نه وشوه كه د مينې تلوسې كړه

24- 7- 1371

□

شو ننګرهار پاتې بهار پاتې شو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سترگو تور د زړه دلدار پاتې شو

شوم بې وطنه خپل پښتون وطن کې

ژوند رانه پاتې ټول قرار پاتې شو

21- 2- 1371

پېښور

⊠⊠⊠

⊠

چې نظر مې په روا او ناروا شي

په یو رنگ راته ښکاره غل او پاچا شو

د ریښتیاوو او د دروغو تمیز نه کړي

پروا نشته که برباده دا دنیا شي

22- 2- 1371

پېښور زرگر آباد

⊠

د زړه په قبر د وفا ډیوه بلېږي د سینې په هدیره کې

ذهن هم نن راته راوړل څو یادونه په تحفه کې

د خوږو شپو څو خوږې خوږې کیسې هم پکې وشوې

عقل سر نه کېږه وکړه ترې روان شو جنازه کې

2- 2- 1371

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



⊠

اوښکې بې رنګه دي اشنا څه پرې ليکلی نه شم

ليکم په وينو باندې ليك زړه صبرولی نه شم

سترګې مې ستا لارې څارې وايم چې کله راځې

ياد دې جانانه د خپل زړه څخه وېستلی نه شم

31- 1- 1370

⊠

يوه شېبه ديدن کړم ليلا مه مې ځه له خوا نه

يو وارې شونډې راکړه چې خوشاله شم جانانه

د غم په دنياګۍ کې اوسېدلی تل تنها يم

په غېږه کې آرام راکړه زما د زړه ارمانه

27- 1- 1371

⊠

د زړه خبرې مې په خولې نه راځي

چاته مې خولې باندې ګيلې نه راځي

دښته کې پروت يم دايم کله راځي

په دغه لاره قافلې نه راځي

28- 11- 1370

⊠

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا ته بیا ورځ د دیدن ده زه به یار ووینم

په ښکلو سترګو کې به بیا د حسن ښار ووینم

خیر دا د وخت ګذار به هم وزغمم ستا دپاره

غواړم په سره ډولۍ کې تا یو ځل سینګار ووینم

13- 10- 1370

چې په رنګ ددې نړۍ څوك غلط نه شي

په هغه انسان به غم مسلط نه شي

د نړۍ په هر یو رنګ کې یو نیرنګ دی

تش په یو کتو کې پام کړه غلط نه شي

1- 2- 1993

روسیه پتر بورګ

چې په چا باندې شي تور د مینې پورې

خلك کړې ورپسې زر خبرې نورې

روغ سړی باسي بیدیا ته چې مجنون شي

که هر څو ځان بچوي د عشق له سیورې

28- 5- 1370

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



⊠

راشه نذرانه ستا د دیدن مې اېښودلې ده

ټوله نړۍ ستا په تمه اوس ما پرېښودلې ده

ته د قدرت هغه ابتکار یې چې ښکلا لرې

ستا ښکلا سپوږمۍ هم په ښکلا باندې غندلې ده

15- 5- 1370

⊠

ته زما د مینې دنیا ته مې امیدونه یې

ته مې د زړګي ټوټه یې ته مې هوسونه یې

ته مې د زړګي محفل کې شمعه د امید شولې

ته مې د دردمند زړه اواز ته مې فریادونه یې

2- 12- 1368

⊠

کله چې زه یار ته د ښو لاندې کتل کوم

نه پوهېږم ولې د خپل زړه عذابول کوم

زما د محبت هنګامه ګرمه ښه ده ګرمه ښه

تل یار ته دعا کړم نه ښېرا او نه ښکنځل کوم

10- 3- 1370

⊠

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سپوږمۍ رڼا ته ځېرمه

د لیلا سره په څنګ کې

چې غم نه وي

غېږ په غېږ

شونډې په شونډو

ژوند هغه وي بې ارمانه

1- 5- 1370

□

که په ژبه يې هر څو وي ښې خبرې

چې ناپاکه زړه لري دروغه ترې لرې

چې په يو دوه ځل خبره څوك پوه نه شو

هوښيار نه وايي اوښانو ته سندرې

10- 7- 1370

□

لکه د مني زېړه پاڼه د باد ساز ته ناځي

لکه بېلتون ځپلی قيس د يار اواز ته ناځي

هوا راوړي د لیلا څخه خبر مجنون ته

د بيديا شګې د مجنون د عشق انداز ته ناځي

9- 7- 1370

□

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه، مینه چې څوك كړي هغه خوارېږي

میینان همېش ځورېږي او كړېږي

چې د چا برخه لیك درد او كړېده وي

د هغوی ژوندون په هېڅ رنگ نه رغېږي

23- 8- 1370

⊠

څو خاطرې مې په زړگي كې شته دي

ارمان مې نشته دا دنیا فاني ده

نه ساتم زړه كې هېڅ هوس د ښكلو

ځكه د ښكلو خو ښكلا فاني ده

9- 8- 1370

⊠

لكه چې سپینې ورېځې توره شپه كې توري ښكاري

داسې په مینه د بېلتون خبرې سپورې ښكاري

چېرې غوټۍ په غوړېدو وي هلته نه ځي خزان

زمونږه ملك كې د ژوندون خبرې نورې ښكاري

12- 3- 1370

⊠

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه یې کړم له چانه ډار نه کړم

زه یم مین بې مینې کار نه کړم

اشنا چې هر څومره جدا وي رانه

زه یې خاطر ساتم انکار نه کړم

21- 6- 1368

یا به جام د شونډو واخلم د ګلفام نه

یا به تېر شمه د مینې د انجام نه

که یې جام راکړ نو سر به ورنه ځار کړم

که نه تېر یمه له دغسې آرام نه

15- 12- 1370

جام مې پورته کړ او یاد مې خپل جانان کړ

په سجده شومه او یاد مې لوی سبحان کړ

د یوه هم سود رانغی نه د خدای(ج) نه د جانان

لا همغسې مې شپه وه د بېلتون او د هجران

6- 5- 1370

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای د میو جامه نن جانان رانه خپه شو

نن راسره مل شه چې نن شعر رانه ګیله شو

ښکلې مې په مینه چې نن بیا راغلله غېږې ته

بل چاته مې پام و چې جانان مې سره لمبه شو

9- 2- 1370

## قـــــــلم

کاغذ اوښکې وچولې د قلم

ویلې مه ژاړه زما ویرجن صنم

خو قلم د یار بېلتون انځورولو

ویلې څه کړم د جانان د مینې غم

11- 11- 1369

## د شنو درو وطن

چې ښایست یې په جهان کې لیدی نه شم

دا د شنو درو وطن افغانستان دی

پښتانه په کې اوسېږي زمونږ کور دی

اتلواله کې یې نوم په ټول جهان دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



6- 9- 1367

⊠

نه ګيله لرم د ژمي نه خزانه

نه خفه يم د سيلۍ نه د طوفانه

نه د چا په ناکامۍ او بدو خوښ يم

بې له خدايه وېره نه کړم له بل چا نه

13- 1- 1368

## پښتونـــخوا

که په مينه د پښتو باندې سنګسار شم

زه پښتون يم پښتونخوا له تا به ځار شم

په کږو سترګو چې تاته نظر وکړي

د هغو سترګو په منځ کې به زه خار شم

9- 6- 1369

## دلته

دلته خاوره د پښتو ده

دلته هر څه د پښتو دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه مېنه د جرګو ده

دلته هر څه په جرګو دي

د جګړې نه يې زړه تور دی

کونډې رنډې په زارو دي

تور پړوني لا ډېرېږي

دغه زېري د جګړو دي

15- 4- 1369

## پسرلـــــــيه

په چمن پسرلی راغی

د صحرا لمنې شنې شوې

د ګلونو موسم بيا شو

هره خوا نړۍ زرغونه

پسرليه ستا په غېږ کې

زما څو هيلې ايرې شوې

نن مې بيا څو جنازې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لحد په حواله شوې

ستا په هر رنگه خوبۍ کې

زمونږ برخه هديرې شوې

تانه نه غواړم گلونه

راله مه رژوه گل

ته د ژوند پيغام راوړونکی

ولې مونږ ته جنازې شوې

ماته گل د سولې راوړه

د اغزو گېډۍ به څه کړم

د خيال شعر له برېښه نه وو

نن د درد سوې نغمې شوې

24- 1- 1370

☒☒☒

**غـــــــندو**

زمونږه لاره ده د روغې جوړې مينې وروړۍ

چې زمونږ لار نه مني هغسې فکرونه غندو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د دنیا په مینه مینه د انسان خرڅوي

که د مسلم وي که کافر دغسې زړونه غندو

که په کې نه وي افغاني غرور د خلکو مینه

بې مینې زړونه او بې ځایه غرورونه غندو

د جهالت توره تیاره کې د ړندو په څېر

د څو ناپوهو د تیاره ذهن خیالونه غندو

12- 12- 1369

احساس مړ دی که مړه شوي انسانان دي

په دې ځمکه انسان ژوند کړی که وحشیان دي

په هر ځای وینې تویېږي دا په څه د انسانانو

دلته شته د چا خواخوږي که له سره یتیمان دي

18- 11- 1370

## ملنگ جـــــان

ستا د شعر رڼا چې تللې په کوم خوا ده

راته ښکاري هغه سیمه پښتونخوا ده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خوږه نغمه چې راغله تر غوږونو

روح افزا د چا د مينې که ليلا ده

￿￿￿

چې د غه خپله جنازه په اوږو تل ګرځوم

جانانه ستا غم به د ذهن سره مل ګرځوم

ما د بېلتون لارې ليدلې ډېر هوښيار ګرځمه

چې زه پرې تاته در رسېږم د هغو لارو په پل ګرځوم

9- 2- 1993

پتر بورګ دريليوا کوڅه

￿

رانه پاتې غم ښادي د خپل پردي شوه

چې مې برخه د خپل ملك مساپري شوه

د وطن ښې خاطرې زما يادېږي

د وطن نه جدايي مې مجبوري شوه

29- 3- 1993

بيلاروسيه ګوميل

￿￿￿

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کـــــنړ ته

ای زما د سترگو توره

ای زما کنړ سمسوره

راته وایه د زړه حال ته

د ترخو یادو احوال ته

ستا سپېڅلي ماشومان چا

ستا سپین ږیري او ځوانان چا

ستا د شمعې پتنگان چا

ستا چمن کې بلبلان چا

چا په وینو ولړل

تور پړوني چا زیات کړل

د سپېڅلو شهیدانو

د پاك نیته خادمانو

جنډې وسولې په اور کې

کلی کور ستا گډ په شور کې

هنگامې د غم خپرې دي

ستا په شاوخوا درو کې

بیا د جنگ د اور لمبې دي

ستا په دښتو او میرو کې

بیا ستا مینه په جوش راغله

زمونږ پلو او په رگو کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننگرهار به کړو آزاد مونږ

بیا درځو دا ستا په لوري

دښمنان به کړو برباد مونږ

بیا درځو دا ستا په لوري

ته ښایسته ماته یونان کې له اتنه

ته یې ګران ماته په چین کې له ختنه

په ښکلا کې کشمیر کله در رسېږي

ته یې خوږ په انګلستان کې له لندنه

ستا د خاورو نه جوړ شوي خړ کورونه

ورکوم نه په سپین کاخ د واشنګټنه

بیا هم ستا په لور روان یم

ای زما خوږه وطنه

تا به کړو آباد له سره

ای زمونږ وجود او تنه

20- 2- 1368

⊠

ای د مینې یاره تل به ګرځم په اغزو باندې

ستا د دیدن خیال به همېشه ورم په مغزو باندې

زړه مې ناقراره دی ننګرهار راته یادېږي

څه به مې تېرېږي په ننګرهار کې پښتنو باندې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



15- 4- 1993

پتر بورگ

□

لاړ شم خيال کې ښکلي ښارد لېونو ته

په کې وکړمه نرر زه د مينې خاطرو ته

يو وخت زه هم اوسېدلم په دې ښار کې

اوس يې ګورمه دې ورانو کنډوالو ته

د تنکۍ مينې په ياد يې يم راغلی

لټوم رڼا د مينې تورو شپو ته

21- 3- 1993

□□□

## غــــــړند ګل

په زړه خبرې مې هوښيارې نه دي

د سترګو اوښکې مې بېکارې نه دي

د شرم ځلی راته مه جوړوه

د غم سندرې مې بې لارې نه دي

زه به دا ستا په مينه څه وکړم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رقیب هیلې چې لا چارې نه دي

د غړند گل په څېرې سر ټيټوي

جانانه سترگې دې خمارې نه دي

18- 2- 1998

روسیه

## ډار

خیر که زه د لېونتوب په کوڅه لاړم

د ښکلا د پېغلې کور راته معلوم شو

زه نظر د لرې لرې پرې لرمه

نږدې نه ورځم ډارېږم

ډېرې سترگې راپسې دي

چې ډوب نه شمه وېرېږم

1- 5- 1995

⊠

شوندې رېبږي د لیلا د شونډو ست غواړي

سترگې ژړېږي د لیلا نه محبت غواړي

نن مې دا دوه مصرۍ زړگي ته مرکه جوړې کړې

واوره اشنا ستا نه د مینې صداقت غواړي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اشـــــــنا

راشه چې دواړه سره کېنو اشنا

یو څو خبرې سپینې سپینې وکړو

د زړونو پټې غوټې وبه سپړو

د پردېسۍ کیسې په مینې وکړو

6- 6- 2004

د جنونه مې د مینې یاد بیدار کړي

په ما ظلم ستا د مینې دا ریبار کړي

سترګې پټې کړمه خدای(ج) ته زاري وکړم

چې نظر کې راته جوړ تصویر د یار کړي

نه پوهېږم څه ګناه به مې وي کړې

چې په خیال کې دې خدای(ج) بند په ما دیدار کړي

نن عجیبه شان احساس راپیدا شوی

ستا آوّاز مې په غوږونو کې سنګار کړي

که دې یو ځلې دیدن زما نصیب شو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما خوار زخمي زړګی به پرې قرار کړي

ځه خالده ځولۍ نیسه خدای(ج) رحیم دی

کېږي ستا په برخه هم د دیدن وار کړي

13- 6- 2000

مسکو

☒☒☒

## د زړه کیسې

که میخانه شته نو رندان خو د وژلو نه دي

که غریبي شته غریبان خو د رټلو نه دي

د ژوند په کمه فاصله کې مې ډېر څه ولیدل

زما د زړه کیسې عالم ته د کولو نه دي

په کومه لاره روان کړی برخه لیك یمه زه

د څه ګناه ده چې توبې د قبلولو نه دي

د خاطر کلی مې وران شوی په کې هېڅ هم نشته

د فکر ورانې کنډوالې د جوړولو نه دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ژوند همدا وي چې ته هغه مه کړه دا مه کوه

د ژوند نه تېر يم دغه شپې خو د کولو نه دي

خالده صبر کوه دغه شپې به ښې شي آّخر

که اوښکې نه وچېږي سترګې د وېستلو نه دي

31- 5- 2001

مسکو

⊠⊠⊠

## انتـــــظار

ستا انتظار تل د راتلو کومه

مينې ستا لاره په لېمو کومه

چې ته رانه شې هيلې وسوځېږي

ځکه اصرار دې د راتلو کومه

چې په بوسه باندې ملکونه بخښم

خير دی که ژوند د لېونو کومه

ماته ژوندون هم يو پېغور ښکاري

چې په ديار يې د پردو کومه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما خو مینه پښتنه خوښه ده

ځکه یې تل خیال د پښتو کومه

د رادیو څپه شه راشه چې دې واورم

بوخ غوږونه ستا د غږه پسې ژاړم

د سپین غر د غاړکۍ له غمو سپینې

څو به لارې ستا لیدلو پسې څارم

## وینــــــم

مینه دې شکلې په لېمو کې وینم

رضا کېدل دې په پلمو کې وینم

ته چې راوګورې زما په لورې

بیا نو نشه هسې اوبو کې وینم

څو به زما او ستا په دې جګړه وي

چې زه تا خپله په پردو کې وینم

په میینانو باندې تور لګوي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه رواجونه پښتنو کې وينم

تا چې مخ واړاوه د بل په لوري

ځکه خالد په لېونو کې وينم

## تپــــــوس

لاړې پاتې شوم يوازې

خپل قسمت سره په لارې

اوس به چاته زه نظر کړم

چې تا توکړې راته لاړې

په ګناه مې زه پوه نه شوم

چې ته څه راځنې غواړې

## مينه

سر په مينه کې د مينې فکر کړي

قلم ځکه يو د مينې ذکر کړي

د هغې زلفې بالښت شوې زما سر ته

چې زما په زړه د نازه چکر کړي

ما د غم په اوښکو لوند کړ تر سهاره

څوك مې کله لوند ګرېوان ته نظر کړي

ما ويل يار به تر قيامته راسره ځي

خبر نه وم چې يوازې سفر کړي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د مينې يار دې نيمه لار کې پرېږدي

ځوك به خنگه پسرلی يا اختر کړي

21- 9- 2001

## گـــــيله

د برخې گيله مند يمه چې شوم په بل ديار

پرده مو ده ساتلې همت غواړم له غفار

زما چې شي ساه تنگه يو مطلب ځانته پيدا کړم

چې شاوخوا ته گورم زړه مې ډك شي له آزار

چې مور مې په ژړا شي ځای مې ورك شي په دې ځمکه

په سمه به روان يم رانه ورکه به شي لار

خالده ما خو داسې اوربېدلي دا رښتيا دي

چې هرې تورې شپې پسې راتلونکی وي سهار

2003

په ژړا مې نه پوهېږي شاوخوا

په پردي ملك کې پردی لرم اشنا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه ما ورسره کړې پښتنه ده

خیر که پوهه نه شوه په دې زما لیلا

⌧

ښایسته ګلونه چې مالیار نه لري

لکه ماشوم چې مور او پلار نه لري

زمونږ په بڼ کې غوټۍ غړندې شوې

یا مالیار نشته یا پې کار نه لري

⌧⌧⌧

**وطـــــــنه**

نور به وچوي زړه مې ډك دی له ګیلو نه

پس له دې ځنې توبه کړم د توبو نه

خوږ وطنه غوږ شه حال د پښتنو ته

چې بېل شوي ستا د خاورو د کوڅو نه

ستا لمنې ته یې اور د نفاق واچاو

هدیرې یې درله جوړې کړې بڼو نه

په نامه د سرېتوب به ارته غېږه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصوي وطنه تا دوی د سړو نه

ځار وطنه ستا له غمه ځان راویښ کړه

د پردو لاسونه لنډ کړه چې خلاص نه شې د پښتو نه

14- 10- 2002

☒☒☒

## ستړی مه شې

پسرلیه ستړی مه شې

زه دې نه وم منتظر

ته له کومې خوا نه راغلې

ولې زه نه وم خبر

ته تنها یې پسرلیه

که راوستی دې دلبر

14- 8- 2003

☒

جام د شرابو راته واچوه

چې مې په لار کې میخانه نشته دی

سفر مې ډېر اوږد دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زما زړه کې حوصله نشته دی

☒☒☒

## پښتو ژبـــــــه

نشته ژبه چې خوږه وي د پښتو نه

نشته خلك چې ترخه وي پښتنو نه

خدایه(ج) عقل ورته ورکړې چې تباه شول

دوی خپل نه شي بېلولی د پردو نه

تر هغو به له ګړنګه راغورځېږي

چې تر څو نیسي یو بل دوی له پښو نه

3- 3- 1372

## خــــــوك یو

مونږ رندان نه یو چې تمه له ساقي کړي

مونږ ساقیان یو د رندانو په وطن کې

بلبلان نه یو چې هسې ګلان ستایي

مالیاران یو د ګلونو په چمن کې

نه ډارېږو له ټوپکو نه له تورو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښتنه وينه چلېږي مو بدن کې

□□□

چې هر کله ګناه وغواړې زما نه

زه تيار يمه زما د زړه جانانه

ستا په مينه کې برې برخه زما ده

زه پوهېږمه په دې له ډېر پخوا نه

11- 8- 2003

## شــــــپه

بيا شپه راغله زه يوازې شوم بستر کې

بيا به ګرځې ستا خيالونه راته سر کې

د بېلتون شپې په فکرونو لنډومه

بيا به خوب کې لټوم تا سمه غر کې

برخه ليکه غواړم ووينم نن ستورې د نژدې نه

څو بڼکې د پرواز لپاره غواړمه وزر کې

22- 4- 2003

□□□

## ســــــتونزه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاره نشته مخ ته تگ به راته گران وي

نه پوهېږمه په کوم ځای به جانان وي

راشئ اوښکو چې زړگی خو مې لږ سپك شي

په ژړا باندې د درد زغمل اسان وي

د رقیب کلي ته ځېرمه لاره ورك یم

که ناکام شم په خندا به زما واړه رقیبان وي

⊠

زه له وخته لېونی یم

زه له بخته لېونی یم

دا چې وچې شونډې گرځم

د ژوند سخته لېونی یم

⊠

هغه ښکلي چې نازېږي په ښکلا

سبا نه لري د نن کوي سودا

تل د ځان سره د ځان په غم اخته وي

نه د چا فکر کوي او نه پروا

⊠

چې دښمن درته دېره شي په ځېره کې د حبیب

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوا نه لري د داسې رنځ طبيب

بیا نو ځان مېښه کول هم ګټه نه کړي

چې د چا سره روا نه شي دا لوبه د نصیب

20- 10- 2004

⊠

لوپټه له مخې لرې کړه شېرينې

راته وخانده په مينې، مينې، مينې

د پښتو د دېوال سيورې ته به کښېنو

سره وبه کړو خبرې سپينې سپينې

30- 5- 2004

**نظــــر**

زه د سپرلو نظر يم

په خزان نه يم خبر

د خوشالو نظر يم

په خپګان نه يم خبر

د مينې لاره څارم

رقيبان ګوري راته

27- 7- 2001

⊠

د اسمان ستوري شمارم

چې انتظار لنډ کړم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډارېږم له دې نه

چې ستوري خلاص شي

انتظار به څه کړم

## وران کلـــی

د کلي وران دېوال ته

ډېره وهلی ناست یم

د کلي سیل کومه

چې کنډواله پروت دی

سیند غلی غلی درومي

غر حیران چوپ ولاړ دی

دلته توپان تېر شوی

که خلك وی

څواب به هم پیدا وی

اوس نو حیران

زه لکه غر ناست یم

ځای د پوښتنې نشته

چې دلته څه تېر شوي

دا کلی چا وران کړی

سیند کې څپې نشته

غر نه د باد دولۍ په څه نا الوځي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مارغان هوا کې نشته

ځمکه ساه نه وکاږي

د کاله رنګ انګړ کې

د ماشوم ماته زانګو

ژړا یې نه اورم

زه په هېڅ نه پوهېږم

د کلي خلك څه شو؟

په کومه تري تم شو

د کلي وران دېوال ته

ډېره وهلی ناست یم

د کلي سیل کومه

چې کنډواله پروت دی

د چا د لاسه وران؟

چا نه خپه پروت دی؟



د اوښکو په ډنډونو کې لمبا مې عادت نه دی

که خپل که د بل غم وي نو ژړا مې عادت نه دی

د وار انتظار کړمه تلوسه د شیطان کار دی

وعدو باندې وفا کوم جفا مې عادت نه دی

27- 7- 2001

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د فکر غوټۍ ګل کله زما شي

په کاغذ کې ترېنه جوړه ستا ښکلا شي

چې د وچو شونډو یاد دې را تازه شي

بیا د شنو لښتو ګوزار زما په ملا شي

23- 8- 2003

## ډالـــۍ

د وطن شاړو میرو ته

ډکو سیندو ته

لوړو غرو ته

زما کلي او کاله ته

زمونږ جومات کې پزکو ته

د پټو ځنګ کې دېرو ته

زیارتونو هدیرو ته

د ګودر د غاړې بڼ ته

ګودرونو او منګو ته

زمونږ د کلي جینکو ته

نازولو او شینکو ته

هم پګړو ته هم شملو ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم زړو ته هم زلمو ته

د یادونو خاطرو ته

هلکتوب ته

زلمیتوب ته

مانه پاتې هلته لرې

د تور غر په خوره غېږ کې

هسې خوب ته- بې له سوچه

31- 3- 2002

## غزل

اوښکې مې لاره د ګرېوان لټوي

چیغې مې لاره د اسمان لټوي

دا ستا کوڅه پل صراط ده که څه

چې هر سړی په لار د ځان لټوي

هر څو چې وستایمه ستا ښایست زه

ښکلا دې هر ځل بل بیان لټوي

سترګې راواړوه چې مخامخ شو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې مې ستا د سترګو کان لټوي

18- 8- 2003

☒☒☒

## قســـــمت

د قسمت سپېره څېره مې يو ځل بيا شوه تر نظره

بخت ياري همېشه نه کړي شوه راياده دا خبره

ما د ځان سره کول د خپل تېر وخت حسابونه

پرواز نه شمه کولی لا مې ماته ده وزره

چې د خپلې شړۍ حد پېژني څوك هغه خلك

د ژوندون مزل کوي تل بې زيانه بې خطره

زه د خپلو ارمانونو جنازه په اوږو وړمه

لږ په حال مې ځان خبر کړه ظلم مه کوه دلبره

بس همدا وس درنه غواړم خدايه(ج) رايې کړه ته ماله

چې معلوم کړم ځانته ټول خپل پردي يو ځل له سره

6- 9- 2002

☒☒☒

په شنو سترګو چې مين زه د جانان شوم

عقل لاړه زه د زړه پسې روان شوم

زه خو پوه وم مساپر خو مينه نه کړي

خو د زړه په مقابل کې ناتوان شوم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



14- 9- 2002

## ځـــــواب

خپله مې ځواب کړه تېر شوم له ريباره

مينې ته مې وويل ځه په خپله لاره

هم مې په زړه سخته وه هم ګيله له بخته وه

زه په نصيب خوار يم څه ګيله له ياره

نه يې هېرولی شم نه يې خپلولی شم

يو ځل ديدن غواړم مرم له انتظاره

ګټه بردم په زړه باندې مهر مې په خوله باندې

نه شومه منصور زه تښتمه له داره

نه کوي سفر کې څوک مينه په بهر کې څوک

يا به يار نه اوړي يا د خپل دياره

14- 9- 2002

خندا که غواړې په دې لاره کې ژړا شته دی

آرام که غواړې ځورېدل خو خامخا شته دی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیه د ښه ژوندون په سختو لارو تګ دی اشنا

ثمر د صبر کې خوندونه د دنیا شته دی

27- 7- 2001

نن بیا اسمان ته ځیر شومه چې ستوري تر نظر کړم

سلام د مینې ووایمه پوه مې پرې دلبر کړم

مسکوه ستا تیاره اسمان کې ستوري ښکاره نه شول

وطن کې رانه پاتې یار به څنګ په حال خبر کړم

7- 7- 2000

## تـــوپیر

کور ته څېرمه

په ډنډوکي کې لمبېږي

کله سر اوبو کې ډوب کړي

کله هسې پرې ښویږي

خو هغوی چې په هوا وي

په بیدیا سیندونو څرخي

صحرایي ښکلې هیلۍ وي

آزادۍ باندې پوهېږي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



4- 6- 1999

## د غـــــربت کیسه

یا به مې له جله وژني یا مې په سیلاب وړي

پوه یمه منزل نشته مزلونه مې سراب وړي

څه بې مزې ژوند دی چې تېرېږي پردېسۍ کې

هسې گوره گوره اورم ژوند به مې شراب وړي

ژاړمه وطنه شپه او ورځې ستا په حال باندې

څوک درنه ښځونه وړي او څوک درنه گلاب وړي

واوره د غربت کیسه چې څه له غمه ډکه ده

څومره افغانان نن توهینونه بې حساب وړي

خوږ وطنه ته ورته په چغو چغو وژاړه

بیا وطن فروشه لقبونه د جناب وړي

ښکلې د وطن به مې تر څو گرځي غربت کې

باد د پردېسۍ به یې له مخ څخه نقاب وړي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



5- 4- 2002

⊠

حال مې مه پوښته وطنه مساپر یم

ستا نه لرې پردي ملك كې در په در یم

چې مې ستا په بې وسۍ باندې نظر شي

وس مې نه رسي نو شك مې شي چې نر یم

## درواغ

رېښتیا نشته دلته خلكه

دروغ په لوړه بیه پلورم

چې په كوم نظر راګورې

په هغې نظر درګورم

8- 3- 2003

## زارې

لویه خدایه(ج) لویه خدایه(ج)

ارمانونه راته پرېږده

د مستۍ ځنې زه تېر یم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل دردونه راته پرېږده

خیر که سترۍ مساپر یم

مزلونه راته پرېږده

چې مرګونه پکې نه وي

پروا يې نشته

تکلیفونه راته پرېږده

د هستۍ څنې دې تېر یم

دا شلېدلي ګرېوانونه راته پرېږده

که ژوندون مو نصیب نه وي

تش خیالونه راته پرېږده

29- 1- 2003

□

په نشه کې لېوني ګرځي حیران یم

ای وطنه ستا بچي ډېر شو بې لارې

په نشو باندې کارونه نه جوړېږي

باید ځان ته دوی پیدا کړي نورې لارې

4- 6- 1999

□

ستا په شپو خوب کې لیدل مې عادت شوي

ستا په یاد د شعر لیکل مې عادت شوي

مساپر یمه اختر مې اختر نه وي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ښاديو کې ژړل مې عادت شوي

20- 9- 1998

⊠

نن ولې مازديګر د تورې شپې په شانې ښکاري

دا ځکه خوږ وطن د جېل خانې په شانې ښکاري

مسکو کې راټول شوي يو توتيان يو په پنجرو کې

زمونږه تېر ژوندون د افسانې په شانې ښکاري

20- 9- 1998

⊠

په ښکلو ډك د مسکو ښار دی

خو زما زړه کې ننګرهار دی

په زړه ننګرهار ځکه اباد دی

چې ما نه پاتې پکې يار دی

11- 3- 1999

## تــــــــه

ته تش نظر يې زه نظر د ژوندون

ته تش باور کې زه باور په ژوندون

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ژوند ښودانه مې دلداره ياد دي

ته تش ساه کاږې زه سفر د ژوندون

د تروږمۍ نه مه ډارېږه راځه

زه يم رڼا سره خبر د ژوندون

11- 8- 2001

## شنې لوخړې

ګوره د چا د کوره وخوت لوګی

د شنو لوخړو ژبې

اسمان په قهر ختې

د چا د روح جنازه

د اور له منځه

عزرائيل وکاږي

19- 8- 2001

※

د ژوندون په معنا پوه اوس افغانان دي

څوك په خپله برخه خوښ څوك پښېمان دي

د چا كور دې اور اخيستى د بل نه كوي پوښتنه

څوك د جوړ كاله نه تښتي ترې روان دي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



19- 8- 2001

٭

ښکلی ښکاري ستا سینګار

سوځوي مې په انګار

ما په مینه ایمان راوړ

په دې شومه ګناهګار

24- 7- 2001

٭

الوځي سپرغۍ تورې ایرې شي ژر

ژوند داسې تېرېږي چې کیسې شي ژر

29- 8- 2001

٭٭٭

د هټلر مزار ته غوارم ګلان یوسم

ورته خاوره د ستالین د دالان یوسم

د روسیې فاشیست د کړې ګناه زېری

لاس نیولی ورته سوی افغان یوسم

29- 7- 2001

افغان وروره! د اسد اته ویشتمه مبارك شه

ژوند خوښي سوله وروري درته درك شه

د پردو په ملك کې سترې ستومان ګرځې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې وطنه په غربت کې ژوند ستا ورك شه

12- 8- 2000

✕✕✕

## نصيحت

د پردو سره د کور خبرې مه کړه

لېونو سره د زور خبرې مه کړه

خرو اوښانو ته رباب وهل بې ځای دي

زورور سره کمزور خبرې مه کړه

31- 7- 2001

د ناپوه سره پوه ګړېږي دادې ناپوهي ده

د ناپوهه سرې لار يا خو په غر يا په کوهي ده

26- 8- 2000

د توبې وخت رانه تېر شو

له ژوندونه مې زړه سېر شو

نه پوهېږم څه به وشي

چې دې ياد هم رانه هېر شو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زړه حال ویلی نه شم

اندېښنو لاندې چې زېر شو

15- 2- 2000

نه خندا په خولو کې شته دی او نه خوند

په ترخو ورځو تېرېږي دغه ژوند

په غربت کې لرې لرې د وطنه او له خلکو

په پراخه دنیا ګرځو داسې یو لکه چې بند

12- 2- 2000

زه پیدا کړمه انسان خدای(ج)

په ملت یې کړم افغان خدای(ج)

په مذهب یې مسلمان کړم

یم ساتلی له شیطان خدای(ج)

دا پېرزو یې په ما کړې

چې راوړی مې ایمان خدای(ج)

افغانان یې پرېښودلي

ورنه اخلي امتحان خدای(ج)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنفاق کينې ته يې گوري

ورته ډېر پاتې حيران خدای(ج)

23- 8- 2001

خړې تېږې د معمار په انتظار دي

وچ ډاگونه د ماليار په انتظار دي

سيند مو بند غواړي سرکې مو قيرونه

نښترونه د نجار په انتظار دي

1- 8- 2000

ډك اسمان د ستورو نه وينم په سر

رايادېږي د خپل کلي مازديگر

د جوړ شوو ښايستونو سترې شوی يم

نشته پېغلې پښتنې او نه گودر

7- 4- 2002

-

د شنيلي څخه سپرغۍ الوځي

گلان ژړا ته د ماليار گوري

وطن ناجوړ دی د نفاق په مرض

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بچي يې ځان ته اقتدار ګوري

19- 5- 2000

-

مينه ته نه شوې زه غزل نه شومه

ساقي ته نه شوې زه محفل نه شومه

3- 3- 2001

-

په خبرو چې بيان شي مينه نه ده

په کتاب کې چې داستان شي مينه نه ده

چې د سترګو په کتو کې پيدا کېږي

چې په زړونو کې توپان شي مينه نه ده

5- 7- 1999

-

زه هسې سټړی يم چې نوره شاعري نه کوم

داسې بې وسه يم چې نوره دلداري نه کوم

د بهر ژوند دی د وطن په حال خبر نه يمه

يو وخت به ورشمه قسمت ته بې واري نه کوم

10- 1- 1999

-

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپېره لکه په ډاګ باندې حیران پاتې یم

بې خونده ژوندانه ته په میدان پاتې یم

د هیلو قافلې رانه شوې تېرې د ژوند لار کې

اوس ګرځمه مسکو کې پرېشان پاتې یم

19- 6- 1999

-

غټې سترګې غوړې شونډې غاړه دنګه

چې ورګورم نشه شمه بې بنګه

10- 8- 2003

-

انګور خوسا شي ترې شراب جوړ شي

اوبه خوسا شي ترې حباب جوړ شي

په چوپه خوله باندې حالونه وايي

ډېرو پوښتنو نه ځواب جوړ شي

ډېر بد نیتان به جنتیان کله شي

ګناه خوسا کړي ترې ثواب جوړ شي

10- 8- 2003

-

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګودر د سر مين وم په ميترو(1) واوښتم

توري سترګې مې وې خوښې اوس په شنو واوښتم

ځار د مينې پښتنې نه چې به زړه کې اوسېدله

چې پردۍ باندې مين شوم په توبو واوښتم

(2000)

## پښـــــــتو

خوږه ده لکه ګوړه ترخه لکه ژوندون

زما سره روانه په لارې د لټون

دېره به په کوم ځای شي پرېښې پښتنو

مړه نه شي خدايه(ج) خير کړې رقيب کړی تړون

18- 6- 2003

-

که د توبې ځای مې لرلی ما په تا څه کول

که د ښادۍ شپې مې کېدلی ما په تا څه کول

29- 6- 2001

-

وېښوي ويده احساس اواز د مينې

پټوي به بې غيرته راز د مينې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې يې واوري د زړه هيلې په ګډا شي

خوږ او ښکلی وي عالمه ساز د مينې

6- 10- 2002

## اهـــــــداء)1(

شپاړس کاله مات مړوند مې دی په غاړه

بخته مات دې کړل هډونه راله واړه

په سپرلي کې مې ستا يو ګل زرغون نه شو

اوس نو څنګه تخت له داسې بخته غواړه

ابراهيم چاړه را اخيستې قرباني کړي

د بچي په ځای يې پرې کړه ځانله غاړه

دا ګلونه به جنت کې تنها نه وي

ډېر پراته دي د کونړ د سيند په غاړه

د شېخانو په جامه کې دلته راغی

فرښتو سره روان شو اوس نو ژاړه

## د ارمانونو ګېډۍ

د څو ګيلو نه مې زړه ډك شو څو ارمانه لرم

تل به خپه يمه ګيله چې زړه کې ستا نه لرم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د نظرونو نه مې زړه لوگی لوگی شو ښکلې

زړه به مې وچوي راته ونه وايې چې تا نه لرم

نذر دې راکړه د نظر سوالي راغلی یمه

چې ته راوگورې پروا بیا د دنیا نه لرم

څوك دې روښانه محلونو ته رابولي ښکلې

زه مې جونگړه کې روښان زړه خو رڼا نه لرم

نظر را ولوروه نورې گیلې نشته ستانه

نورې گیلې مې د وختونو د قضا نه لرم

د0 ارمانونو په گېډۍ کې ستا فکرونه دي ټول

ارمان به ورك شي که په خوا کې دې خندا نه لرم

30- 8- 2003

د سیوا ستوپل هوټل مسکو

## بـــــې قراره

شرم دې پرېږده چې بې کاره ښکاري

غېږې ته راشه چې وزگاره ښکاري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلك خو وايي لېونۍ وي مينه

دا زما مينه خو هوښياره ښکاري

په دې پوهېږم چې خپه ده رانه

پخلا کول يې سخته چاره ښکاري

شونډې يې راکړې بيا يې پرېښودمه

لکه چې پاتې شپه مې ناره ښکاري

ښکلې خالد په غېږ کې بيا ونيسه

شاعر زړگی يې بې قراره ښکاري

26- 9- 2001

مسکو

☒☒☒

## توبه گار

نن مې مه چېړئ چې ووايم بربنډې

چې په زړه مې دي خبرې هغه غونډې

دا قسمت ځناور نه دی سترې شوی

سمه لار کې جوړوي دی راته کندې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه خو نه یم زورور او دی مې مروړي

د ظالم په خېر وکاږي رانه منډې

د خوبانو د ښایست یې توبه ګار کړم

کتی نه شمه که سترګې مې وي برندې

ای قسمته! لږ مې پربږده چې تنها شم

ستا د لاسه تېرومه ژوند د کونډې

په مسکو کې دې هم سیوري ته روان یم

که نه ما به ښکلولې دغه غونډې منډې پنډې

د وطنه راجدا شوم ستا له لاسه

په دنیا زه بنجاره شوم ته مې ګنډې

غلط شوی یې قسمته غنم نه یم

ولې باسې ما خالد غریب له ژرندې

2001 -9 -9مسکو

## مـــــهاجره

د کابل په غېږ کې ډېره خوربدلې یوه خور وه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغان له کاله وتې مساپره په بل لور وه

د ناخوالو د ژوندونه یې غوښتل چې رابهر شي
ګوندې لرې له وطنه به دا وران ژوندون بهتر شي

مور او پلار ورور ورسره شوه مساپره
دغه پېغله له قسمته ناخبره

د حالاتو چې تابع کله انسان شي
د نادودو سره کلك لاس او ګرېوان شي
چې په خاوره د تاجکو شوه دننه
حال یې بد شو که کوې رانه پوښتنه

شپه او ورځ یې په ژړا او په خپګان شول
په دې کړي نیت خپل لړ لړ پښېمان شول

خو د ښه ژوندون هوس لا هم په کې و
دوی له بد ژوندونه په تېښته لوځې پښې و

لاربښوونکی یې پیدا کړ چې افغان و
د فرېب او غلا نه ډك چګتیي انسان و

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(خوب است بریم) یې کول دوی شول تیار

د اورګاډي دروازې ته شول قطار

دوی په ډېره وېره شو دننه رېل کې

سره وړاندې وروسته پاتې شول په ټېل کې

چې اورګاډي په پټلۍ باندې روان شو

ټول تاجك قوم په شور او په فغان شو

د هورا چکچکو شور شو هرې خوا ته

دودکا او چرسو بوی جګ شو فضا ته

د تاجك له خاورې ووتل په خیر

د ازبك په خاوره هم شولو ورتېر

د قزاق له ځمکې روس ته واوښتل دوی

د پردي مذهب تر پولې رسېدل دوی

د روس خاوره کې یې اورګاډی راتم کړ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ځای وه چې په پېغله يې جوړ غم کړ

دغه پېغله چې پيدا کړه سرحديانو
کړه ورګډه په ټولګي يې د بنديانو

پېغلې فکر کړ چې اورګاډی روان شي
دا به پرېږدي په خپل کړو به پښېمان شي

مور او پلار يې ځکه نه کړه خپل خبر
چې هغوی ورسره نه کړي رابهر

پېغله نه پوهېده دا هغه روسيان دي
چې زموږه کاڼي بوټي ترې پرېشان دي

د مسکو په لوري شو رېل ترې روان
ځای د پېغلې شو په لويه لار زندان

دغه پېغله شوه جلا له مور او پلاره
قسمت پرېښوده تنها په لويه لاره

د هجرت دغه کيسه ده ډېره سخته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو راپيښه ده د خپل بخت او له تخته

د اسلامه هجرت کړو د کفر کور ته

ټينګيدی نه شو د خپل اسلام دې زور ته

دغه پېغله چې افغانه وه په ختہ

شوه ډېر ژر د افغاني ختې په لتہ

په زندان کې يوه پېغله وه تاجکه

پوهېده په افغاني دودونو کلکه

ډاډه يې ورکړ دغه پېغلې د وطن ته

چې څوك لاس دروړلی نه شي ستا بدن ته

ورته وې ويل، چې دلته افغانان شته

د کابل او کندهار هم د لغمان شته

ستا به مرسته کړي چې کله شي آزاد

رسوي به تا حتمي تر خپل مراد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی چې څوك و سرحدي زندان کې بند

ټول يې ټول کړل او روان يې کړل په خوند

په اورګاډي يې په زور ورخېژول

لا دپاسه يې په سپك انداز ښکنځل

درې زلمي پېغلې پيدا کړل افغانان وو

ښه تکړه په اندامونو انسانان وو

پېغلې وغوښتل له خدای ورته عمرونه

ويلې دين په دنيا شولئ زما وروڼه

چې په کومه لاره ځئ نو درسره ځم

که جنت وي که دوزخ وي درسره زه ځم

څوك په ويښه څوك ويده شو رېل روان

پېغله ژاړي او ځوانان ورته حيران

هغه وخت چې سترګې پټې کړلې ښکلې

دې زلمو کړې ترېنه دواړه پښې بلې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ټول زلمي شول پټ په لار ددې نه

راشه یاره چې خبر دې کړم کیسې نه

ننني افغان ته تش نامه ده پاتې

خدایه(ج) ما د داسي سست فطرته ساتې

هغه وخت انسان د بل انسان په کار شي

چې بلا وربانده‌ې راشي یا بیمار شي

د غمونو په منګولو کې تنها شوه

چې راویښه دغه پېلغه په ژړا شوه

درې ځوانانو وو دانګلي له اورګاډې

اوس به دغه بد قسمته پېغله ژاړې

د قسمته تښتېدل که څه اسان وی

نو به جوړ ژوندون د هر خاورې انسان وی

خالد خیال څپه کښ بارګامي- 2001- 7- 13

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تسلیت پېغامونه

په ډېره خواشینۍ سره مو خبر تر لاسه کړ، چې ځوان شاعر او لیکوال او د (ټول افغان) ویب پاڼې همکار خالد بارګامی د پردېسۍ په ژوند کې د تل لپاره سترګې پټې کړې، د www.tolafghan.com اداره په داسې حال کې، چې د خدای بښلي خالد بارګامي په مړینه سخت خپګان ښکاره کوي دا ناوړه پېښه د هېواد او هېوادوالو لپاره یوه ستره ضایعه بولي او د خدای بښلي کورنۍ، خپلوانو او خواخوږو ته د جمیل صبر غوښتنه کوي د دوی سره په دې خپګان کې ځانونه شریك بولي. روح دې ښاد او کارنامې دې د تاریخ تلپاتې یاد وي.

په درنښت

مجیب الرحمان انګار

د ټول افغان ویب پاڼې په استازیتوب.

☒☒☒

خاټول، امریکا

انا لله و انا الیه راجعون

لوی خدای دې ورته تر دې نړۍ ښه نړۍ او د نړۍ له اهله غوره اهل ور په برخه کړي.

الله تعالی دې جنت او خپله رضا ور په برخه کړي.

☒☒☒

خالد هادي، امریکا

انا لله و انا الیه راجعون

په دومره خواشینۍ سره، چې نور یې په زړه کې تم ځای نه وي تېره اونۍ مې هم دا خبر د بي بي سي په راډیو کې د پېلوځې په خپرونه کې واورېد:

په ډېر ځیر مې ټوله اورېده خو کله، چې مې د ارواښاد په خپل ږغ کې دا ځلوریزه واورېدله:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما مړي ته کـــــــــفن درسره ورکړئ

ټپوســـــــــــــــان راته پرېنږدئ په ټېر

د وطن د مور لــــــمنه کې مې کېږدئ

د کابل خاورې مـــــې وشيندئ په سر

په زړه کې مې يو ډول اور بل شو او نور مې د توان او طاقت حس له لاسه ورکړ تر سترګو مې ترمې ترمې اوښکې راغلې او تر خولې مې راووتل:

هو! دا منم چې مرګه څم درسره، دغه مې لاره

خـــو قسم په خدای مه راځه بې وطنه بې دياره

زه په داسې حال کې، چې د هغه د جدايۍ غشی د ټولو پښتنو پر زړونو کې ښخ ګڼم د هغه کورنۍ ته د جميل صبر خواست کوم او هم ارواښاد ته خپل دغه شعر ډالۍ کوم:

ارواښاد خالد بارګامي ته!

ای د مستو نغمو غره

غم خوړلی مساپره

ای پردېسه ځوانيمرګه

ای د تورو شپو سحره

که ته هر خواته روان شې

او له مورې څخه پنهان شې

مورې دې پېژنو ته نه مرې

که په زر ځله هم روان شې

ځکه ته خو يو همت يې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو احساس يې يو غيرت يې

تا اجل نه شي خوړلای

ته غښتلی محبت يې

مرګ دې نه شي ختمولای

ژوند دې نه شي هېرولای

زموږ له زړونو څه ستا مينه

قسمت نه شي پاکولای

ته خو مړ نه يې ژوندی يې

يو اتل يې يو زمری يې

د پښتو د بڼ ګلابه

زموږ د هيلو پسرلی يې

ستا مورکۍ وهي چغارې

هره اوښکه کې خدای ښکاري

ته خو مړ نه يې (خالده)

دا پر څه درپسې ژاړي

يو وارخپل سر کړه راپورته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته ووایه خپل مور ته

چې مورجانې راته غوږ شه

دا زما د نغمو شور ته

دغه ستا شېرینه مینه

ما مرګي ته هېڅ پرېږدینه

زما رګونو کې لا غورځي

پښتنه سپېڅلې وینه

زما احساس او زما شعرونه

ویښوي مړه اولسونه

تل تر تله به ژوندی یم

لړزوم به تاریخونه

پاڅوم به بیده زړونه

چې پوره کړم ارمانونه

مورې ستا که باور نشته

یو وار وپوښته دا غرونه

دا کوڅې دا رباتونه

دا د خاورو خام کورونه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه خړ خړ دېوالونه

دا ګودر دا چنارونه

دغه مست مست کنړونه

دغه ټوله شاهدان دي

دا زما د زړه یاران دي

ته باور وکړه مورجانې

تر ایمان راباندې ګران دي

تر هغو چې وي دا پاته

زه ژوندی یمه و تاته

مورې ستا (حیدري) زړه کې

تل دعا کوه و ماته

نیویارك د 2004م کال د جولای د میاشتې اتمه نېټه

طالب جان، امریکا

انا لله و انا الیه راجعون

کل نفس ذائقآ الموت.

زه په داسې حال کې، چې په دې غم کې د مرحوم له کورنۍ سره څان شریك بولم د پالونکي څښتن له لویه درباره مرحوم ته د مغفرت او کورنۍ ته یې د صبر جمیل غوښتونکی یم.

اللهم اغفرنا واغفره اللهم احشره فی الانبیاء والصدیقین والشهداء وحسن اولئك رفیقاً.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وصلی الله علی خیر خلقه محمد و علی اله و صحبه اجمعین. آمین یا رب العالمین.

⊠⊠⊠

سالوخان

انا لله و انا الیه راجعون

د ځوانۍ د پسرلي په جوش او خروش کې وې، چې د ژوند غوټۍ دې ورژېده.

په دې کار سره دې نه یوازې خپل خپلوان او دوستان غمجن شول؛ بلکې خپل مساپر وروڼه دې هم وژړول. ستا ډېرې پوښتنې او ارمانونه بې ځوابه پاتې شول. یاد به دې تل ژوندی ساتو.

روح دې ښاد او الله(ج) دې تا او همدا رنګه مورِ ټولو ته ښښنه وکړي. (آمین).

هوتك، امریکا

انا لله و انا الیه راجعون

یارانو مرګ حق دی تېښنه نه ترې لرو د خدای جل جلاله حکم دی، چې که په ټرلو برجونو کې یاست هم؛ نو د اجل پرښته به مو ارومرو ښکار کړي؛ خو زور دا ځای غواړي، چې نېکان او صالحان له ځمکې پورته کېږي او بدان یې ځای نیسي. د ښاغلي بارګامي په څېر د لوستو او په هېواد مینو زلمیو مرګ یوه ملي تراژیدي ده. د تېرو څو لسیزو په ترڅ کې زمورِ هېواد له باتورانو شاه زلمو نه داسې تش شو، چې اوس مورِ لوستي ځوان قشر له یوې بې سارې تشې سره مخامخ یو. په کمونستانو کې مو هم هغه د سر وتلي برېتور او غیرت شازلمي د اور د لمبو او د باروتو د لوخړو خوراك شول. د مجاهدینو له منځ نه مو هم هغه منلي او باتور زلمي ووژل شول. په طالبانو کې مو هم هغه ښکلي، تنکي او نازك شازلمي له لاسه ورکړل، چې د هغو ځای ډکول تر قیامته پورې شوني نه دي. د شمالي ټلوالې په تشکیل کې هم د زمرو په څېر پیاوړي ځوانان او کاکه ګان خاورې شول او اوس؛ نو هماغه خشره مال پاتې دی، چې نه له افغانیت نه خبر دي او نه هم کوم ملي احساس لري. هر څه یې د بوش په خدمت پورې تړلي دي.

په هر صورت خدای(ج) دې بارګامی وبښي او د بېوفا دنیاګۍ د تنکیو ارمانونو صله دې خدای(ج) په اخرت کې د جنت په بڼه ورکړي. باور وکړئ، چې ددغه زلمي د مرګ د خبر په اورېدو مې هسې سترګې سره راډکې شوې هغه شاعر څه ښه وایي:

دا یاران لکه ګلونه د بــــــــــهار دي

د خزان په باد رژېږي دربغه دربغه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بیا بارګامی؛ خو د یارانو یار و خدای(ج) دې په جنت کې له موږ سره ځای ورکړي آمین ثم آمین.

پښتانه وايي، چې: سل دې ومره یو دې نه! دلته هغه یو منظور او هدف دی، چې نه یوازې د ځان؛ بلکې د ټولو لپاره وي. د ډېر ویر او ناورین سره دادی د داسې غښتلي پښتون غم ته ناست یو، چې د هغو سلو څخه نه؛ بلکې هغه یو دی. انا لله و انا الیه راجعون. ټولې کورنۍ او دوستانو ته یې د رب العزت له درباره د زړه صبر او متوفي ته د جنت فردوس دعا کوم. امین یا رب العالمین.

اسلام دوست

انا لله و انا الیه راجعون، اللهم اجرني من مصیبتي و خلف لي خیراً منها.

بښونکی او مهربان خدای جل جلاله دې بارګامي ورور ته په جنت الفردوس کې ځای ورکړي او وارثانو ته یې د زړه صبر او اجر عظیم نصیب کړي، پاك خدای جل جلاله دې د مرحوم په ټولو ګناهونو د عفوې قلم راکاږي.

ډېرو قدرمنو لوستونکو!

د مرګ څخه خلاصون ممکن نه دی هر چاته په خپل وخت سره مرګ راځي؛ خو ښه به دا وي، چې موږ او تاسو له مرګ نه وړاندې ژوند غنیمت وګڼو او د لوی خدای جل جلاله عبادت او بندګي په پوره مینه او اخلاص سره وکړو؛ لکه څنګه، چې د یو چا مرګ هم موږ او تاسو ته د تیار اوسېدو پیغام راکوي؛ څکه رحمان بابا هم وايي:

هر زنده چې د مــــــرده په قبر ورشي

بس دی دومره نــــصیحت په دا دنیا

دا پاخه پاخه ســـــــرایونه او محلونه

خو به وران شي عـــاقبت په دا دنیا

بل پلو بهایي جان هم دنیا پاتې کېدونکې ګڼي او وايي:

پر وطن به سره ګلان وي موږ به نه یو

نوي نوي به مرغان وي موږ به نه یو

ددې دور ودانۍ به شي خرابې

نوي کلي به ودان وي موږ به نه یو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په چمن به سرې او سپينې رمې ګرځي

ښکته پورته به کوچيان وي موړ به نه يو

شاعران به جوړوي غزلې نورې

مطربان به غزل خوان وي موړ به نه يو

نور به واړه شي فاني بهايي جانه

همېشه به حق سبحان وي موړ به نه يو

☒☒☒

عادل وطنمل

الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ

الله دې ارواښاد خالد بارګامي ته جنت ورکړي او اسلام او مسلمانانو ته دې يې کړې خدمتونه په خپل دربار کې قبول او منظور وګرځوي او کورنۍ ته دې يې صبر او اجر عظيم ورکړي.

د آزاد اسلامي افغانستان په هيله.

طالب خان، امريکا

کل نفس ذائقآ الموت

مرګ يوازېنۍ هغه حقيقت دی، چې په هېڅ بڼه ترې سترګې نه شي پټېدلای. حقيقت دادی، چې موږ ټول بالاخره د همدغې لارې لارويان يو، هغه لاره، چې بارګامي صېب په مخه ونيوله، نن وي که سبا دادی موږ به يې هم په مخه واخلو. مرګ هغه پديده ده، چې د لوی خدای جل جلاله له لوري د ټاکل شوي ضرب الاجل سره سم راځي. لوی خدای جل جلاله دغه حقيقت ته په خپل معجز کتاب کې اشاره کړې ده او فرمايلي يې دي، چې کله د چا اجل راشي؛ نو يوه شېبه به نه وړاندې شي او نه هم وروسته.

د همدې اصل له مخې څوك په ترافيکي پېښو کې مړه شي، څوك په جګړو کې او څوك هم په خپل مرګ ومري.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بارگامی هم یو له هغو ورونړو څخه و، چې خدای پاك له موږ څخه په ځوانۍ کې واخیست. د پردېسۍ او مساپرۍ مرگ د شهادت درجه لري، په ځوانۍ کې هم مرگ خورا لویه رتبه او اجر لري.

موږ په داسې حال کې، چې په دغه غمجنه پېښه کې د مرحوم له کورنۍ سره ځان شریك بولو له لویه خدایه غواړو، چې د بارگامي حشر له شهداوو او صالحینو سره وکړي، ټوله صغیره او کبیره گناهونه او لغزشونه یې عفوه کړي او د لنډ دنیایي عمر په بدل کې ورته د جنت دایمي او تلپاتې خوږ ژوند او د حورو دیدن ور په برخه کړي. خدای پاك دې د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم شفاعت ور په برخه کاندي خدای پاك دې کورنۍ ته په دغه مصیب کې صبر جمیل او د هغې په بدل کې اجر جمیل ورکړي امین ثم امین.

انا لله و انا الیه راجعون

توپان

فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ

خدای پاك(ج) دې بارگامی وبښي او خپلوانو ته دې یې د زړه صبر ورپه برخه کړي، موږ د بارگامي له کورنۍ سره په دې خپگان کې ځان شریك گڼو خدای پاك(ج) دې یې عوض په دنیا او اخرت کې ورکړي.

رحمان بابا وایي:

که دې سل چته مکان وي په دنیا کې

مقبرې ته د مکان په نظر گوره

خدایه څه شو هغه ښکلي ښکلي خلك

په ظاهر او باطن سپین سپېڅلي خلك

هېڅ خندا مې له دې خلکو سره نه شي

ژړوي مې هغه تللي تللي خلك

او بیا یو بل شاعر څه ښه وایي:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه دوه ورځې ژوندون دی مرګی ورك شه

سره خاندي به ټول کلی زه به مړ یم

په مزار مې چې رادرومې خدای دپاره

لږ شه ماته پښه نیولی زه به مړ یم

غروال، جرمني

محترمو پټمنو خوېندو او ورڼو سلام عرض کوم!

داروابناد او مغفور ورور خالد بارګامي د مړینې له امله د زړه له کومې خپله او د خپلې کورنۍ له خوا خواشیني څرګندوم، لوی سبحان غفور غفار کریم ستار الله جل جلاله او شان عظمته دې دده روح آرام او د برزخ له جمله عذابونو او سختیو سره د جمله اهل القبور الموْمنین و الموْمنات په خپل امن او امانت کې وساتي او دده درنې کورنۍ او ټولو دوستانو او عزیزانو ته د پاك او کریم خدای(ج) څخه د جمیل صبر او زغم غوښتونکی یم.

ربنا و الیك المصیر.

د قدرمن ورور ښاغلي مجیب الرحمان انګار څخه په دې وسیله مننه کوم، چې د پښتو لیکوالو قدر او عزت کوي او خپله ژورنالستیکه دنده ډېره په بري او بشپړه توګه د "ټول افغان" پاڼې لپاره پر مخ بیايي، چې د (ټول افغان) پاڼې د لا ښایست او خېرنیزې ودې موجب ګرځي. کور یې ډېر زیات ودان!!!

د افغان مسلمان، بې ګناه ولس قاتلینو د محاکمې په هیله!

په درناوي

لیلما الفت

انا لله و انا الیه راجعون

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای تعالی خو دې د همدې ځوانیمرګۍ عوض په هغه ابدي دنیا کې درکړي په رښتیا هم د پردیسۍ مرګ پاك شهادت دی.

((زما پاك او مقدس خدایه! ته خو هغه مور او خوېندو ته د زړه صبر ورکړه، چې خالد غونډې ځوان زوی یا ورور یې ځوانیمرګ شوی دی، ته خو د هغه برکت پر پاته ژوندي فامیل کېږده)) آمین.

د ارواښاد خالد بارګامي په یاد د ښاغلي وګړپال شعر:

خـــــالده

خلکو ستا په غم مورې سره غم ژړل

غم سره جوړه وير و ماتم ژړل

غم دې په غمونو کې وتلی و

چا به ښه پرېمانه چا به کم ژړل

اوښکې لارې لارې په هر مخ راتلې

دومره دې غم درووند و چې ما هم ژړل

مورې خو د احساس له مخې ژاړو ټول

ومې لید د ګل سره شبنم ژړل

ډېرې سترګې نه وې په ژړا عادت

ټولو به د يو بل سره سم ژړل

برو دې اوچته جنازه کړله

لرو دې بې وسه په تورخم ژړل

ما غوښتل په وير دې غزل ولیکم

ګورم چې په ګوتو کې قلم ژړل

يو وګړپال نه و چې ژړل به يې

ما خو چې کتلو ټول عالم ژړل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ارواښاد خالد بارګامي لنډه پېژندنه

د خــــــالد غمونو وکـــړې داسې چارې

چې د زړه لـــه هیلو وینې وهـــــــې دارې

موږ د ویـــــــر په ویر پوه کړې دده ویر یو

زموږ کوکارې اوس له غم وهې کوکارې

ارواښاد خالد بارګامی چې د (ټول افغان) www.tolafghan.com په بحث فورمونو کې یې د غښتلي په نوم لیکنې کولې، د ښاغلي حضرت ګل بارګامي زوی د 1354لمریز کال د ثور د میاشتې په 24 مه نېټه په کنړ کې زېږېدلی. ځوانیمرګ بارګامی لا د طب پوهنځي درېیم کال پای ته نه و رسولی، چې په هېواد کې د خپل منځي جګړو اور بل شو او تعلیمي اداري په پوځي مرکزونو بدلې شوې. خالد هم د نورو زرګونو افغاني زلمیانو په څېر نه یوازې له زده کړې محروم شو؛ بلکې له هېواد نه وتلو ته هم اړ شو.

خالد بارګامي د کډوالۍ دولس کلن ژوند په مسکو کې تېر کړ، هغه د کډوالۍ دروند پېټی په پوره مېړانه پورته کړ، خالد د پوهې، مېړانې، مهارت، رښتینولۍ او پښتونولۍ په جامه پوښلی افغان د ښه قلم خاوند، شاعر او ښه لیکوال و، د هغه د نوښت او بې پایو مرستو او هلو ځلو په نتیجه کې یو نیم کال دمخه په مسکو کې د افغاني ځوانو فرهنګیانو ادبي ټولنه جوړه شوه. ددغې ادبي ټولنې او ځوانیمرګ خالد په هڅو سره په مسکو کې په لسګونو مشاعرې، ادبي غونډې او بنډارونه د ځینو پوهانو او شاعرانو د یاد غونډې جوړې شوې. په مسکو کې وروستۍ مشاعره هم د خالد بارګامي په نوښت او مشرۍ جوړه شوې وه، دا مشاعره د کډوالو د نړیوالې ورځې (د جون په شلمه نېټه) د مسکو په ښنډو کې جوړه شوې وه، چې یو زیات شمېر فرهنګیانو او فرهنګپالو پکې ګډون کړی و، په دغه مشاعره کې د نورو لسګونو ویناوو او شعرونو تر څنګ د مرګ او جنازې په اړه دغه څلوریزه دده له خوا په کراتو زمزمه کېده:

زما مړي ته کـــــــــفن درسره ورکړئ

ټپوســـــــــــــــان راته پرېنږدئ په ټېر

د وطن د مور لـــمنه کې مې کېږدئ

د کابل خاورې مـــې وشیندئ په سر

مرګي په ډېرې بې رحمۍ او بېړې سره دده ټولې ځوانې هیلې او لوړ امیدونه له خاورو سره خاورې کړل، نوموړی په یوه ترافیکي پېښه کې د 29 کالو په عمر د 2004م کال د جولای د میاشتې په اته ویشتمه نېټه چې د 1383لمریز

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال د زمري د میاشتې له اوومې نېټې سره سمون خوري په مسکو کې خپل ځان حق ته وسپاره او په خپله پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.

انا لله و انا الیه راجعون

له مسکو څخه افغانستان ته دده د مړي په انتقالولو کې په مسکو کې مېشتو افغانانو او د نوموړي دوستانو بې دریغه همدردي او نه هېرېدونکې برخه اخیستې ده.

د لوی خدای(ج) له دربار نه یې کورنۍ ته لوی صبر او ده ته د ښېښې غوښتونکي یو.

په دردېدلي زړه

ستاسې خوږمن ورور

خاورې انګار

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**